# د سحر امید

لیکواله: [illegible]

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فهرست


| سرلیک | مخ |
|---|---|
| دَ کتاب پېژندنه | ۷ |
| دَ لیکوال پېژندنه | ۸ |
| دَموندلو درک | ۹ |
| خصوصي مننه | ۱۰ |
| تړون | ۱۱ |
| خپلې خبرې | ۱۳ |
| سریزه (دَسحر امید) عزیز قریشي | ۱۷ |
| سریزه (دَابراش ختک شاعري) رحمت شاه سائل | ۲۱ |
| نعت شریف | ۲۸ |
| دعا | ۳۰ |
| بغاوت | ۳۱ |
| غزل (دَشین غر په سر تپه شوم چې خیبر ته ورسي) | ۳۲ |
| غزل (زۀ خو وایم ځان مې بې او زړۀ مې بې، وایه کنه تۀ چې بې که نۀ مې بې) | ۳٤ |
| غزل (لواغر او خر خیبر چې یادومه په غزل کښې) | ۳۵ |
| غمونه | ۳۷ |
| اخلاق | ۳۹ |
| غزل (داچې په ما پورې خندا کوې دا ښۀ نۀ کوې) | ٤۰ |
| تذبذب | ٤۱ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | |
|---|---|
| طمع | ٤٢ |
| تپې | ٤٣ |
| غزل (چې دَ غضب کاتۀ نګار وکړي، ورته به پلار دَ چا اظهار وکړي) | ٤٦ |
| چیلینج | ٤٧ |
| سرۀ ګلونه | ٤٨ |
| انتظار | ٥٠ |
| پیغله افغانۍ | ٥١ |
| غزل (نۀ مني قدغن زړۀ مې لیدۀ غواړي) | ٥٢ |
| غزل (دَرقیب ګوته برملا مه نیسه۔ زړۀ مې دَ اور په لمبو بیا مه نیسه) | ٥٣ |
| سیم و زر | ٥٤ |
| غزل (څۀ دې کړم دَ خو دې کړم دا څۀ کوې) | ٥٥ |
| غزل (دیدنونه به نن وۀ شي او که نه، دا زخمي زړۀ به مې ښۀ شي او که نه) | ٥٧ |
| سودا | ٥٩ |
| خطا | ٦١ |
| مسافر | ٦٢ |
| پښتو | ٦٣ |
| غزل (هغه چې په کاته شي دا زړۀ مې داسې داسې) | ٦٥ |
| نظم مستقبل دَ پاکستان | ٦٦ |
| مظلوم | ٧١ |
| غزل (هغه چې نشته ده اختر څۀ عجیبه غوندې دے) | ٧٢ |
| غزل(تاکه دَهاړ دَ اوړي نمر کړلوځان، ما هم ګڼ سورے درون شجر کړلوځان) | ٧٣ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | |
|---|---|
| غزل (سپرلیه راشه رنګینی راوړه، مونږ له پیغام دَ خوشحالی راوړه) | ۷٤ |
| بندګي | ۷٥ |
| لواغر | ۷٦ |
| علم | ۷۷ |
| ستاینه | ۷۹ |
| حسد | ۸۰ |
| خُلهٔ | ۸۱ |
| خار | ۸۲ |
| غزل (نهٔ مې غزل دَ مینې اوري نهٔ تپه دَ مینې) | ۸۳ |
| غزل (دا زړهٔ زما مالدار دے چې نادار پکښې اوسېږي) | ۸٥ |
| سرې لمبې | ۸٦ |
| غزل (که منګلې دې هر څو کړې په اترنګ رنګ) | ۸۷ |
| ځان | ۸۸ |
| لوخ لغړ | ۸۹ |
| صداقت | ۹۱ |
| جنت | ۹۲ |
| برخه | ۹٤ |
| اودهٔ جذبې | ۹٦ |
| احترام | ۹۸ |
| امید | ۱۰۰ |
| وچ لرګے | ۱۰۱ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | |
|---|---|
| مغلوب | ۱۰۳ |
| اسلام | ۱۰٤ |
| پټ حقیقت | ۱۰۵ |
| مقتدي او مُلا | ۱۰۷ |
| غزل (ورک مې کړي له ځانه په کاتۀداسې، ورک لکه دَ کوره پښتانۀ داسې) | ۱۰۸ |
| حیثیت | ۱۰۹ |
| درگوهر | ۱۱۰ |
| بینظیر | ۱۱۳ |
| رڼا | ۱۱٤ |
| ژوند | ۱۱۵ |
| رحمت | ۱۱٦ |
| ښېې بربنډې | ۱۱۷ |
| خزان | ۱۱۸ |
| نا اشنا | ۱۱۹ |
| غزل (ټول ښکلي پسخیږي دَ ستاحسن ته) | ۱۲۰ |
| تور خال | ۱۲۱ |
| څوکۍ | ۱۲۳ |
| ترمې او ښکې | ۱۲۵ |
| قلم او خنجر | ۱۲۹ |
| همزار | ۱۳۱ |
| فولاد | ۱۳۲ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | |
|---|---|
| بخرے | ۱۳۳ |
| مېکونې شونډې | ۱۳۵ |
| دروغجن | ۱۳۷ |
| پښتنه مینه | ۱۳۹ |
| پښتون | ۱٤۱ |
| غزل (سترګې که دي سترګې خوبس ستا سترګې) | ۱٤۲ |
| فن | ۱٤٤ |
| افغان | ۱٤٦ |
| ځان | ۱٤۸ |
| کفن | ۱٤۹ |
| فکروخیال | ۱۵۱ |
| چې پښتون یم | ۱۵۲ |
| رموز | ۱۵٤ |
| ملت | ۱۵٦ |
| سمندر | ۱۵۸ |
| غزل (تا که دَ بنو شوکې تېرې کړلې، ما هم ورته ځوانې حوصلې کړلې) | ۱٦۰ |
| دَسرولی | ۱٦۲ |
| خوشحال خان | ۱٦۳ |
| غزل (دا چې ستا دَ زنې په سر زخه ده، خوښه مې ده بې حده مې خوښه ده) | ۱٦٤ |
| نظم لېونې زلمي | ۱٦٦ |
| پښتونخوا | ۱٦۸ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | |
|---|---|
| غزل (چې په تپه مې يکه زار نۀ کوي، خواص خمسه به بې کار نۀ کوي) | ۱۷۰ |
| سېل | ۱۷۱ |
| کافر | ۱۷٤ |
| دَ نور محمد ملنګ صاحب دَ شعري مسودې دَ ورکېدو په حقله يو څو شعرونه | ۱۷۵ |
| شړېه شړوپ | ۱۷۷ |
| نظم "مور" | ۱۷۹ |
| پښتون | ۱۸۲ |
| غزل (لکه تن چې بې له سره بې معنې، داسې زۀ بې له دلبره بې معنې) | ۱۸۳ |
| دَبقا ژوند | ۱۸۵ |
| خېر و شر | ۱۸٦ |
| غزل (خپل همت وژاړم که دا سترې سفر وژاړم) | ۱۹۰ |

(دَ کتاب ټول حقوق دَ مصنف په حق کښې محفوظ دي )

## دکتاب پېژندنه


دَ کتاب نوم * دَ سحر امید

مصنف * بناغلے اَبراش خټک

دَچاپ نېټه * ۲۰۱۷ء

تعداد * ۵۰۰

دَچاپ ځاے * علمیه پرنټنګ پرېس پېښور
0312-0346(9103898)

ټائیټل ډیزاین * عابد پرنټرز محله جنګي پېښور

کمپوزنګ * بناغلے محمد نواب خټک
* 0345-1933019
* 0314-8079217
nawabarmourer@gmail.com*

پروف کتنه * امان اللّٰه امان
* نور محمد ملنګ
* بنارس خان خټک


(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دلیکوال پېژندنه

| | | |
|---|---|---|
| دَ لیکوال نوم | * | ښاغلے اَبراش ختک |
| دَاوسیدو ځاے | * | ضلع کرک ترخه کوئي |
| دَفون شمېره | * | 0346-9728692 |
| | | 0313-6994947 |
| دَپلار نوم | * | صوبېدار عالم بادشاه |
| دَ روڼو نومونه | * | عبدالرحمٰن دروېش |
| | | فضل الرحمٰن طوفان |
| | | مقصودالرحمٰن صابر |
| | | مفتي حفیظ الرحمٰن |
| | | مجاهدالرحمٰن مهجور |
| دَ ځامنو نومونه | * | خذیفه ختک |
| | | سُدیس خان |
| | | وړوکے معاذ ختک |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دَ موندلو درک

١. یونیورسټي بک ایجنسي خیبر بازار پېښاور
٢. پښتو اکېډمي بک شاپ پېښاور یونیورسټي
٣. عامر پرنټنګ اینډ پبلېشر جنګي محله قصه خواني بازار پېښور
٤. ظفر کتاب ګهر کوهاټ
٥. کوهاټ کتاب ګهر کوهاټ
٦. نوید نیوز ایجنسي شنکی اډه ټیري
٧. حمزه بک ډپو مېن بازار بنو دکان نمبر ١
٨. حمزه بک ډپو ټانچي بازار بنو دکان نمبر ٢
٩. حق بک ډپو کرک
١٠. عامر سټېشنري کرک
١١. دلچسپ کتب خانه میټاخېل
١٢. باچا خان لائبریري لتمبر کرک
١٣. سني پرنټنګ پرېس امبیري کله چوک کرک
١٤. ساون کاپي هاوس اینډ فوټو سټېټ سروس میټا خېل
١٥. همراز فوټو سټوډیو اینډ آن لائن سروسز میټا خېل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خصوصي مننه

۱. ښاغلے نعیم ازاد صاحب سُهېلي پښتونخوا کوټه
۲. رحمت شاه سائل باچا خان مرکز پېښور
۳. ښاغلے سلیم قرار
٤. پروفېسر عزیزالله قریشي تیري
٥. لوړ شاعر ادیب آیت الله خان ختک
٦. لوړ شاعر ادیب نور محمد ملنګ (ختک صاحب)
۷. لوړ شاعر ادیب حکیم امین ختک
۸. لوړ شاعر ادیب ندیم ننګیال
۹. مصور اسلام زیب
۱۰. چیرمېن ویلج کونسل ترخه کویـي حافظ سیف السلام
۱۱. قدرت علي شاه (ستر سیکتر عوامي نېشنل ګوند کرک)
۱۲. اېډوکیټ لقمان حکیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تړون

## دَ ستر خوشحال خان خټک

## او دَ هر

## هغه کس په نوم څوک چې زما

## دَ ليلیٰ وطن مجنون دے اوسر شنه يې

## کوي

## خپلې خبرې

دَتوولو نه اول زۀ دَ خپلو هغو توولوخوارِو ملګرو یو جهان مننه کوم چا چې اول زما دَ "سپېځلې جذبې" په چاپ کولو کښې او اوس دَ بل کتاب "دَ سحر امید" په چاپ کولو کښې په یوه بڼه مرسته وکړه او دَ خپلو توولو آتلانو او باباګانو دَ پاره لاس په دعا یم چې پروردګار دې ورته دَ عقبیٰ توول خوندونه او لذتونه نصیب کړي۔ (امین)

دَ دې نه علاوه دَ خپلو درانو او قدرمنو مینه والو لوستونکو دَ زړۀ دَ تل نه مننه کوم چې زما دَ وړومبي کتاب "سپېځلې جذبې" یې حوصله افزایي او پذیرایي وکړه او زۀ بې دَ دې جوګه کړم چې یو بل کتاب چاپ کړم ۔ زما دَ دې کتاب "دَ سحر امید" په چاپ کولو کښې زما دَ مینه والو لوستونکو مینه او ما ته راکړې حوصله شامله ده او زۀ یو ځل بیا دَ خپلو خوارِو لوستونکو نه دا هیله لرم چې زما "دَ سحر امید" به هم لکه دَ "سپېځلې جذبې" حوصله افزایي او پذیرایي وکړي۔ که داسې وي نو زما داغالب ګمان دے انشاءالله زما دا ادبي سفر به هم دغسې مخ په وړاندې ګړندے روان وي او دَ خپلو مینه والو لوستونکو دَ پاره به ښکلې ښکلې فن پارې تخلیق کوم۔ "دَ سحر امید" کښې ما دَ هرعمر او هر مزاج خیال ساتلے دے او کوشش مې کړے

(c) ketabton.com: The Digital Library



دے چې هر لوستونکے ترېنه خوند واخلي او څۀ نه څۀ استفاده ترېنه وکړي خو دا فیصله به زما لوستونکي مینه وال کوي چې زۀ پـه دې خپل کوشش کښې تر کومه حده پورې بریالے یم۔

دلته دَ یوې خبرې وضاحت کول غواړم هغـه دا چې زمـا یـو محسن دَ لوړ قامت ښتن دَ اهونو او سُرونو شاعر نور محمـد ملنـګ "خټک صاحب" شعري مجموعه ورکه شوې ده۔ دَ دې شعري مجموعې په حقله یو لنډ شان غزل نما نظم په دې کتاب کښې لیکلے شـوے دے خو دَ خټک صاحب دَ دې ورکې شعري مجموعې په حقله خپلو لوستونکو ته لږ وضاحت کول ضروري ګڼم۔

قدرمنو نور محمد ملنګ "خټک صاحب" دَ پښتونخوا دَ سـهیلي اضلاع دَ بنو دَ سیمې لوړ شخصیت، عظیم شاعر ادیب دَ ښاغلي غازي سیال صاحب شاګرد دے ۔ خټک صاحب خپل نظمونه او غزلونـه دَ کتاب دَ انتخاب دَ پاره دَ غازي سیال صاحب په خدمت کښـې پـېش کړي وو۔ محترم غازي سیال صاحب دَ دې کار تر سره کولو نه پـس دا شعري مجموعه دَ یو بل ملګري پـه لاس خټـک صـاحب تـه واپـس ورلېږلې وه خو دَ هغـه ملګـري نـه دا مسـوده چرتـه پـه لاره کښـې وغورځېده او دغه شان ورکه شوه ۔ الله دې وکړي چې بیرته پیدا شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او زمونږ لاسونو ته دَ کتاب په صورت کښې راورسي۔ (امین)

ســــــتا دَ فــــــیض له برکتــــــه
پورتــــــه لا رمــــــه له ښــــــکته
زهٔ اَبــراش یــې چــې هــر پــل یمــه یــاد کــړې
څنــګ کیــدے شي چــې یــې زهٔ کــړم فرامــوش

بې شکه! دَ نظم پلار اروابښاد امین الله خاموش صاحب هغه سپین سپیڅلے انسان دے چې دَ هېراولو نهٔ دے بیا په تېره تېره زما دَ پاره ځکه چې نن که زهٔ دَ "سپیڅلې جذبې" او "دَ سحرامید" مصنف یم او یا مې دوه نوره کتابونه چاپ ته تیاردي نودا دَ دې قد آور شخصیت، دَ وچتې حوصلې او ژوندۍ جذبې خاوند اروابښاد امین الله خاموش صاحب دَ صحبت خوارهٔ دي چې نن پرې زما سره سره زما دَ مینه والو لوستونکو خلې هم خوارېږي دي ۔ خاموش صاحب پخپله دَ یو فعال او ژوندي تخیل څښتن وهٔ لکه څنګه بې چې په پیرۍ کښې هم خپل تخیل مړینې ته نهٔ دې ورکړې هم دغسې بې زما تخیل هم تل ژوندے ساتلے دے۔

زهٔ به چې په سهیلي پښتونخوا کویټه کښې وم نو خاموش صاحب به اکثر ما ته په موبایل فون باندې خپل نظمونه اورول او زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه به یې هم غزلونه او نظمونه اورېدل او دغه شـان بـه یـې ماتـه ادبي میدان ساز کړې وو او یا به چې زۀ کله کلې ته په چټۍ راغلم نو بیا به هم دَ خاموش صاحب په اصرار دَ هر اتوار په ورځ مونږیو څـو ملګـري دَ دوي په حجره کښې راجمع کېدو او خاموش صاحب به زمونږ نظمونه او غزلونه اورېدل او وربانديې به یې زړۀ پورې تبصره کوله او مونږ بـه ترېنه ډېر څۀ زده کول۔لنډه دا چې خاموش خاموش وۀ زمونږ دَ پاره یوه ولوله او یو جوش وۀ۔

دلته چې دَ یو بل ډېر مخلص ملګري محمد نواب ختک ذکر وۀ نۀ شي نو غټ زیاتے به وي ځکه چې نواب ختک زمـا هغـه خـوږ او مخلص ملګرے دے چا چې بغېـر دَ معاوضـې نـه وړومـبے زمـا دَ "سپېځلي جذبې" او بیا "دَ سحر امید" کمپوزنګ (کتابت) ډېر په تُندۍ او په ویاله ټنډه تر سره کړو۔لوې خداے دے نواب ختک ته زما سره دَ دې ښېګړې اجر و ثواب په برخه کړي۔(امین)

په اخر کښې دَ یو څو ملګرو نومونـه چـې دَ یـادونې وړ دي۔ ندیم ننګیال ،محمود عباس مبارز، راشد افغان، الحاج اسلم خان، تصور نواز، معلم انعام اللّٰه ختک، بشارت ختک، مطهر جاوېد کُنډي، محمد عرفان ختک، محمد ریاض عاجز، تنـویر ختـک، عادل خـان ختـک،

(c) ketabton.com: The Digital Library



افتخار خټک، خلیل خټک، واجد فاروق، محمدکامران(KCA)،ښاغلے سهیل خټک جمالي، عادل بازخټک، نورالحسن، ضیاسر، معلم اعجاز خټک، نعمت الله مفکر،امیر سلطان خټک، شاهدالرحمٰن مجذوب، صفدر الرحمٰن، محمد رحیم خټک، شاکرالله، محمد یونس مروت، قسمت الله مروت، شیات نور، ظهیر خټک، ضیاءالاسلام، اقرار وطن یار، منصور الله جوش، توفیق الله، انشاءالله، افتاب الحسن، حلیم خټک، مدثر خټک، فیاض خټک، عزیزالله، عمران زیب، سمیع الله، مصور اسلام زیب، راحت خټک، انوارالحق، سبحان الدین بیزار، امیر نواز (وَرشنه لاچي)، فیض الابرار خټک، ظفر اقبال مدهوش، مهتاب الرحمٰن آتش، صبا خټک، ندیم خټک، نعیم عباس، محمد اعظم پنجابي، یاسر همراز، فرمان الله، خالد عابدین، اقرار وطن یار، صبور ساحل، حارث مدهوش، عمر خټک، ناصر خټک، حارث منظور او داسې نور ډېر ملګري۔

دا دې دعا سره رخصت غواړم چې ښاد او اباد اوسئ۔

فقط ستاسو

آبراش خټک

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دَسحر امید

دَ خوترې مردم خېزې او دَ خټکو دَ ویاړ خاورې دَ ژوند په هره شعبه کښې داسې ځوانان زېږولي چې دَ ټولو پښتنو شمله پرې هسکه ده ـ دَ پښتو ادبي میدان کښې هم دا خاوره داسې معموره ده چې په غنډې میراخاخېل کښې دَ ادب په میدان کښې پریشان خټک لکه دَ قطب ستوري ځلېږي او پړقېږي او دغسې اختر زمان خټک، پروفیسر محبوب الرحمان مجروح، ډاکټر ساغر خټک، آیت الله خان خټک، امین الله خاموش او ظفر تنها دَ پښتو دَ قافلې هغه غړي دي چې دغه مشال یې په لاسونو کښې نیولې دَ رڼاګانو ښودنه کوي ـ

دَ خوترې دَ ترخه کویې په ادبي لعلونو کښې یو لعل ابراش خټک هم دے چې قلم یې په لاس کښې نیولې کله "سپېځلې جذبې" لیکي او کله دَ وخت تیارو نه مایوسه کېږي نا بلکه "دَ سحر امید" ډیوه هم پخپل زړهٔ کښې بله ساتي او نورو ته هم دا زېرے ورکوي ـ

"دَ سحر امید" دَ ابراش خټک دویمه شعري مجموعه ده چې دَ هغه دَ خپلې ژبې او قام سره یې کچه مینه ترې څرګندېږي، دَ خپلې ژبې سره دا یې کچه مینه په جاربنایې او په خپلې ژبې ویاړ کوي او دا اظهار او دا ویاړ داسې اعلانوي.....

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ خپـل نیکـه پـه بـل روان پښـتون همـت لرمـه
پښتو مې دین پښتون ایمان پښـتون همـت لرمـه

پښتو به هم وي راسره دَ خپـل شـین غـر دَ پاسـه
بیا بـه تپـه کـړم یـا قربـان پښـتون همـت لرمـه

دَ ابراش ختټک په شاعرۍ کښې غم دَ یـار او غـم دَ روزګـار دواړه په غورځنګونو دي دَ زړهٔ تارونه چیړي او داسې خوندوره نغمـه زیږوي چې خوږو زړونو له مرهم وي او ټکور هم۔

ماشـــومان دَ ســـتا دَ کلـــي
مـــا پـــه لوټـــو کانـــو ولـــي
دا چـــې داســـې راپســـې
لکـــه تـــا چـــې ورتـــه ویلـــي
کـــه دا تـــا ورتـــه ویلـــي
مـــا پـــه سرو ســـتوګو منلـــي

دَ رومانیت دا ښکلې اندازېې دَ لیدو دے .....................

زهٔ خـــو وایـــم ځـــان مـــې یـــې او زړهٔ مـــې یـــې
وایـــه کنـــه تـــهٔ چـــې یـــې کـــه نـــهٔ مـــې یـــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغســـــي مـــــدهوش مـــــي همېشـــــه ســـــاته
څــــهٔ خــــواره نشــــه دَ ژوندانــــهٔ مــــې یــــې

په غم کښې ډوب شوګیر وهلې خپل احوال داسې بیانوي.........

زهٔ دې له غمــــــــه شــــــــوګیرې تېــــــــروم
تــهٔ یــې بــې غمــه خپــل خوبونــه کــوې

او بیا چې کله پخپل ماحول نظر اچوي دَ سرمایـې دَ بُتـانو دَ ظلـم و استبداد فریاد داسې کوي.....................

چې ظلمونـه پـه خوارانـو رنـګ پـه رنـګ کـه
خــدایا دا فــراخ جهــان پــه هغــو تنــګ کــه
ورانــوي چــې زمــا خــرې خــوارې خــونې
محلونــــه دَ دې غتېــــو ړنــــګ کــــه

ابراش ختټک دَ رحمٰن بابا په شان........

قناعــت مــې دَ خرقــې لانــدې اطلــس دے
دَ تمــــام جهــــان بادشــــاه ظــــاهر ګــــدا یــــم

وایـي چې .......

ارتګــــــــي دَ قناعــــــــت سره ترلــــــــې
کامــــــراني دَ لــــــور همــــــت سره ترلــــــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



او یا دا شعر............

تــا تــه مبــارک شــه دَ بنګلــې جنــت
زۀ پخپلــه خونــه کښــې جنــت لــرم

دَ طبقاتي کشمکش دغه هنداره هغه په بغاوت مجبوره کوي ..........

نادار چې پکښې پټ وي او مالدار پکښې ښکاره
کومــــه زۀ دَ داســــې روایــــاتو بغــــاوت

دَ روزګار غمونو او خپل چاپېرچل او دَ هغې عکسونه دَ هغهٔ په "تذبذب" نظم ، نظم "مستقبل دَ پاکستان"او نورو ډېرو بلا نظمونو او شعرونو کښې دَ هغهٔ دَ روڼ شعور بڅري برېښنا کوي۔

زۀ دَ ابراش خټک دَ پاره لاس په دعا یم چې لوے خـدائے دې بې تخیل نور هم افاقي کړي۔امین

په ډېره پښتنه مینه
پروفېسر عزیزالله قریشي
تیري

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دَابراش خټک شاعري

تــــهٔ دَ ســــوزېدو دَ پــــاره ســــوزه تــــهٔ
زهٔ پــــه وړانــــدې تلــــو دَ پــــاره ســــوزه تــــهٔ
تــــهٔ لکــــه دَ بــــت ولاړ، ولاړ بــــه وے
زهٔ پــــه وړانــــدے تلــــو دَ پــــاره ســــوزه تــــهٔ
زهٔ دَ بقــــا ژونــــد دَ ورکېــــدو نــــهٔ يــــم
تــــهٔ دَ ورکېــــدو دَ پــــاره ســــوزه تــــهٔ

"دَ سحر امید" دَ ابراش خټک دَ شاعرۍ دَ کتاب نوم دے. ما دَ خپلو خبرو نه مخکښې لوستونکو ته دَ هغهٔ دَ غزل نه درې شعرونه ولیکل ما داسې ولې وکړل، ځکه مې وکړل چې لوستونکي دَ ابراش خټک دَ شعر ذایقه محسوسه کړي او زما سره زما په خبرو کښې شریک شي.

شاعري څهٔ شے دے او مونږ يې ولې خوښوو، تاسو دې سوال ته څنګه ګورئ. ستاسو ځواب هر څهٔ چې دې خو زهٔ وایم چې دَ شعر مثال دَ خوشبوئۍ دې یا دَ جانان دے خوشبويي څهٔ ته وايي دا ولې ده وجود يې څهٔ دې او جانان څهٔ دې مونږ ورسره ولې مینه کوو حسن څهٔ دې؟ مونږ يې ولې خوښوو، دَ دې ټولو خبرو نه چې کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ولي" پیدا کېږي دَ دې مونږ سره هېڅ ځواب نشته خو دَ ژوند هنګامه چې څۀ ده هغه ټوله په دې څيزونو ده ګنې دنيا خو دَ کندو کپرو نوم دې بس خو يو شے دے نو .........

په اصل کښې زمونږ دَ پښتو شاعرۍ دا کمال دَ منلو دې چې هر څو که زمونږ شاعر دَ روماني انداز نه اغاز کړې وي خو ډېر زر دَ خپلې روماني شاعرۍ سره سره دَ وطن او قام په حواله داسې داسې خبرې وکړي چې مونږ ته دَ خپل اولس شاعر ښکاره شي . دَ ابراش ختک په شاعرۍ کښې هم دغه رنګ موجود دے . دَ دۀ شاعري دَ انفراديت نه اوس اجتماعيت ته رارسېدلې ده او بيا که مونږ دَ ابراش دَ کتاب نوم ته وګورو "دَ سحر اميد" په دې نوم کښې هم زمونږ اجتماعي ارمانونه مونږ ته په نظر راځي . زۀ په خپل نظر کښې دے شاعر ته داسې ګورم لکه دَ يو ماشوم په وجود کښې چې ځوان زلمے توانه طاقتور سړے سړي ته په نظر ورځي . زۀ دَ ابراش ختک شاعرۍ ته خوشبين ځکه شوم چې دَ ده په شاعرۍ کښې ډېر شعرونه دَ دۀ دَ اوچت افکار او په ښۀ کاوشونو دلالت کوي .

ابراش ختک فطرتي شاعر دے دَ الهام شاعر دے او دا حقيقت دَ هغۀ دَ ړومبي کتاب "سپېځلې جذبې" او دَ دې کتاب "دَ سحر اميد" دَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاعرانه فن دَ تدریجي ارتقا نـه واضـح دې. پخپلـه دَ الهـامي شـاعرۍ وکالت په دې شعر کښې داسې کوي.

دَ ازل کاتـــب پـــه برخـــه کښـــې راکـــړې
فنـــا نـــهٔ لـــري مـــدام دے زمـــا فـــن
چـــې پـــه زور وي هغـــه فـــن وي يـــو څـــو ورځـــې
چـــې مـــدام دے خـــو الهـــام دې زمـــا فـــن

دَ ابراش خټک په شاعرۍ کښې دَ حسن عشق دَ محرکاتـو نـه علاوه نور ګڼ شمېر موضوعات لکه تعمير او اصلاح، دَ مزدور ژونـد يعني ترقي پسند رجحان، دَ مزدور سره مينه، حريـت پسـندي، وطـن دوستي، بشر دوستي، دَ بل دَ درد احسـاس او داسـې نـور. دَ بـل دَ درد احساس اودَ وطن دوستۍ جذبه يې په نظم "مستقبل دَ پاکستان" کښې وګورئ او دغسې دَ اصلاح او تعمير رنګ يې په دې شـعرونو کښـې وګورئ

دَ غيـــر پـــه خـــاوره ابـــادۍ جـــوړوې
پـــه خپلـــه خـــاوره بربـــادۍ جـــوړوې
خپلـــه پښـــتو دې ســـپورې څښـــې ژاړي
تـــهٔ نـــورو ژبـــو له کمڅـــۍ جـــوړوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ مزدور سره دَ محبت او عقیدت جذبه او ولوله يې په دې
شعرونو کښې ښکاره ده.

قائــل يــم دَ خوارانــو دَ خــدمت او دَ عــزت
موندلې په دې کار کښې ما جنـت دے هـم راحـت
نادار چې پکښې پټ وي او مالدار پکښــې ښـکاره
کومــــه زۀ دَ داســـــې روايــــاتو بغــــاوت

دلته به زۀ دا خبره وکړم چې په دې دور کښــې کتـاب چـاپ کول او بيا په تېره تېره دَ پښتو کتاب چاپ کول زړۀ او ډېره لويــه سـينه غواړي ځکه چې په دې دور کښې هر سړے يو غـټ نقـاد دے او دَ تنقيد کولو مقصد يې هم فقط دَ سړي دَ زړۀ ماتول وي. تنقيد دَ پاره دَ اصلاح ښه خبره ده خو تنقيد دَ پاره دَ تنقيد ښه خـبره نـۀ ده. دَ ابـراش خټک په شاعرۍ کښې که څۀ لږه ډېره کمـي شته دا دَ مطالعې سبب کېدے شي خو زما دَ پوخ يقين دے چې دَ وخت سره سره به دا کمي مونږ ته بيا نـۀ محسوسـېږي ځکــه چـې پـه ابـراش خټـک کښـې دا صلاحيت هم موجود دے او فني صلاحيت هم.

مونږ ته پکار دي چې مونږ دَ دې شاعر رهنمايي او حوصــله افزايي وکړو. ده ابراش په دې کتاب کښې ډېر نوي و خوارۀ غزلونــه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظمونه شته چې زمونږ دَ ادبي زوق تنده ماتولې شي. دَ دهٔ کتاب په ډېره همدردانه جذبو لوستل پکار دي چې زمونږ دا شاعر دَ صبا دَ پاره زمونږ دَ قام او ژبې يوه بختوره اثاثه وګرځي.

زهٔ دَ نمونې دَ پاره ستاسو سره دَ ابراش ختک څو شعرونه شريکول ضروري ګڼم.

تـــذکره ســـتا دَ جمـــال چـــې پکښـــې نـــهٔ وي
هـــم تپـــه او هـــم ســـندره بـــې معنـــې
دَ اخلاص خوند او خوږلـت چـې پکښـې نـهٔ وي
ســتا پــه ســتونې کښـــې شـــکره بـــې معنـــې

تـــل ويـــنم دَ شـــعر او غـــزل تـــل ويـــنم
داســـې يـــو نظـــر يمـــه دَ فکـــرو فـــن

فرنـــــګ کـــــونتره دَ هـــــوا وګڼـــــه
تـــهٔ عقـــابي ورتـــه نظـــر جـــوړ کـــه
چـــې دَ فرنـــګ دَ ظلـــم شـــپې ختمـــې شي
تـــورې له شرنـــګ ورکـــه ســـحر جـــوړ کـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چــې دَ خوشــحال شــمله پــرې فخــر وکــړي
پښــــتونه سر دې داســــې سر جـــوړ کــــه

زه درتــــه ګورمــــه بــــې وســــه ماشــــوم
تــــهٔ مــــې بــــې بــــې وژنــــې بابــــا مــــې وژنــــې
زهٔ ســــتا دَ خــــوږي خصــــلت پالنــــه کــــوم
تــــهٔ زمــــا خــــوږي وژنــــې ادا مــــې وژنــــې

زهٔ دَ روڼ ســــحر پــــه طمــــع پایمــــه
تــا کــه مې پــه ژونــد تیــارې خــوارې کړلــې

دا چــــې کــــړې قیصــــې دَ مایوســــۍ راتــــه
تــا لیــدلې نــهٔ دې جــوړ همــت زمــا
کــــړم چــــې ابــــیارې دَ ګل دَ زړهٔ پــــه خــــون
دغــــه ده جذبــــه دَ حریــــت زمــــا

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـــه دې سر کـــــشي سر مـــــې څـــــۀ وکړمـــــه
واپې کـــــټ ښـــــۀ یـــــم ټیټېـــــدلې نـــــۀ شـــــم
پـــه سرکـــــشۍ کښـــــې یـــــې پښـــــتو پوشـــــیده
ځکـــــه څـــــۀ ښـــــد ورتـــــه ټړلـــــې نـــــۀ شـــــم

او دغسې نور ډېر شعرونه په دے کتاب کښې شته چې زمونږ ادبي زوق ته ژوند بخښلې شي هیله لرم چې ابراش خټک به خپل دا یون په خپل کړاو او ریاضت او په مینه نور هم ګړندے کړي. مونږ ټول دَ دۀ دَ پاره لاس په دعا یو.

په ډېره پښتنه مینه
رحمت شاه سائل
باچا خان مرکز پېښور
۲ جولایي ۲۰۱۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نعت شریف

رهــبر دَ رهبرانــو دے رهــبر هغــه یــو
دَ ژوند په توره شپه کښې روڼ سحر هغه یو

څـهٔ داســې دلربـا ده چــې ټـول وفـا وفـا ده
دَ خوږ زړهٔ مسیحا ده غمګین په غم زما ده

شفیع چې به زمـا وي پــه محشــــرهغه یــو
دَ ژوند په توره شپه کښې روڼ سحر هغه یو

دنیــا ده کــه عقــبیٰ ده دَ دهٔ پــه سر پیــدا ده
باچــا ده کــه ګــدا ده دَ هرچــا رهنمــا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



غرېږي مې په سترګو کښې اکثر هغـه یـو
دَ ژوند په توره شپه کښې روڼ سحر هغه یو

روضې له به یې ځمه دیدن بـه یـې کومـه
ابـراش یـې یادومـه تـل اوښـکې تویومـه

زمـا دَ ړنـدو سـترګو دے نظـر هغـه یـو
دَ ژوند په توره شپه کښې روڼ سحر هغه یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دعا

اِلٰــهي دَ بــدو چــارو نــه مــې ژغــوره
دَ محفــل دَ بــدکردارو نــه مــې ژغــوره

مــا روان پــه نېغــه لار دَ شریعــت کــه
دَ شــیطان لعــین دَ لارو نــه مــې ژغــوره

چې په بد وخت کښې مخ واړوي بل لور ته
دَ بنــۀ وخــت دَ تابعــدارو نــه مــې ژغــوره

چې په خلۀ یې وي یوه پــه زړۀ کښــې بلــه
دَ دې وخت دَ دوزې مــارو نــه مــې ژغــوره

چې خاطر دې ما اَبراش پــه سـیم و زر کــه
ربــه داســې رشــته دارو نــه مــې ژغــوره

✡✡✡✡✡✡✡✡✡✡✡✡✡✡

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بغاوت

قائـــل یـــم دَ خوارانـــو دَ خـــدمت او دَ عـــزت
ونډلے په دې کار کښې مـا جنـت دےهـم راحـت

کوم څۀ چې مې په زړۀ وي هم هغه زما په خلـۀ وي
زده کـــړے مـــا ســـبق دَ حقیقـــت او صـــداقت

صورت بس هغه یو دے چې دَ زړۀ مـې دے واکـدار
واکدار به دَ زړۀ نۀ کړم بل صـورت پـه یـو صـورت

نادار چې پکښې پټ وي او مالدار پکښـې ښـکاره
کومـــــه زۀ دَ داســـــې روایـــــاتو بغـــــاوت

په غر کښې هم څرګند دے او په سمه هـم څرګنـد
قربـــان شـــم دَمـــزدور دَمشـــقت او دَ محنـــت

همـت تـه یـې قـوت ورکـړو دې مـا ابـراش خټـک
چـې پریوتـۀ نظـر مـې دَ مـزدور پـه لـوړ همـت

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

دَ شین غـر پـه سر ټپـه شـوم چـې خیـبر تـه ورسي
دا زمـــا دَ مینـــې غـــږ دې لـــواغر تـــه ورسي

زهٔ اواز دَ لــواغر یــم هــم نوښــار، هــم دَ خیــبر
دَ یووالـــي دا خـــبر دې هـــر بشـــر تـــه ورسي

تخیـــل مـــې اول لاړ شي دَ کابـــل وکـــړي ســـیلونه
دَ کابـل نــه چــې راســتون شي پېښــور تــه ورسي

دَ افغان غم لېونے کړم نـهٔ خنـدا شـته نـهٔ خوبونـه
دا زما پـه سر کښـې درد دې هـر یـو سر تـه ورسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما سره دې روغه وکړي که مې سر غواړي که پسونه
زمـــا دغـــه يـــو پيغـــام دې مـــرور تـــه ورسي

په دې خپل ساده عاشـق دې لـږ نظـر دَ کـرم وکـه
هســې نــه چــې لېــونے شي دَ غــرۀ سر تــه ورسي

دَ ابراش په کور کنبې اور چې لګـولے کـوم وګـړي
دَ دې اور دغـــه لمبـــې دَ هـــغي درتـــه ورسي

❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖
❖❖❖❖❖❖❖❖
❖❖❖❖❖
❖❖❖
❖

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

زۀ خـو وایـم ځـان مـې یـې او زړۀ مـې یـې
وایـه کنـه تـۀ چـې یـې کـه نـۀ مـې یـې

خـس راتـه ښـکاریږي بـې لتـا جهـان
هر څۀ کـه یـې ګرانـه خـو بس تـۀ مـې یـې

دغســې مــدهوش مــې همېشــه ســاته
څــۀ خــواږه نشــه دَ ژوندانــۀ مــې یــې

ولــې دې هــر نــاز پــه اوږه وړم ابــراش
دا خــو راتــه ووایــه چــې څــۀ مــې یــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

لـواغر او خـړ خیـبر چـې یادومـه پـه غـزل کښـې
څـۀ هغلتـه نـه راوړمـه او څـۀ وړمـه پـه غـزل کښـې

امید شته چې بـه پښـتون شـم دَ پښـتو نـه بـه خـبر شـم
تـذکره دَ پښـتنو چـې تـل کومـه پـه غـزل کښـې

له مودو ورک شوے ځان بـه خاماخا پکښـې پیـدا کـړم
پښـتانۀ دَ لـر او بـر چـې لټومـه پـه غـزل کښـې

دا دَ غېر په دام کښې نښتے یو پښتون دے چې دوه ښکاري
زۀ یـې بیـا پـه ډېـره مینـه یـو کومـه پـه غـزل کښـې

شـونډې وچـې زلفـې سـپورې مـا افغـان تـه ده ولاړه
دَ پښـتو دَ نـاوې څنـې غوړومـه پـه غـزل کښـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ پښتو دَ ناوې سترګې که هرڅو دي سیاه پوشې
دَ خپل فن په سلایې یې تورومه په غزل کښې

که هر څو دَ وخت خپسه مې په فکروخیال کښېني
زۀ یې بیا بیا تخنومه ویښومه په غزل کښې

سهیلې پښتونخوا کوېټه ننګرهار او که کابل دے
خپل خلوص پښتنه مینه ورلېږمه په غزل کښې

غر ځنی دَ لواغر وه ما ابراش ایساره نۀ کړه
دَ شین غر په جګه څوکه پسې تلمه په غزل کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غمونه

چـــې دَ چــا مـــې هـــر دم وړي دي نازونـــه
هغـــــه نـــــۀ مـــــنې زمــــا مشــــقتونه

هغـه کـس چـې مـا ازاد پـه تـن او مـن کـۀ
نـــن يـــې مـــا لـــره ترلـــي بنـــې لاســـونه

دا مـــې خنګـــه دَ زړۀ سر دے نـــۀ پـــوهېږم
هـــر وګـــړي تـــه زمـــا شـــميري عيبونـــه

چـــې هـــيخ غـــم زمـــا دَ غـــم ورسره نشـــته
دَ هغــــه غمونـــــه وړم پـــــه سر پندونـــــه

چـې پـه کومـه خلـۀ يـې تـل زمـا صـفت کـۀ
پـــه هغـــې خلـــۀ يـــې نـــن راکـــړل پيغورونـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوبهٔ خور که مې هر څو دَ زړهٔ په خون کړل
نهٔ مې خپل او نهٔ مې ښکل کړل سرهٔ ګلونه

چې زما ابراش ختټک دَ سر دښمن دے
دَ هغه سره کوي مصلحتونه

## دوه شعرونه

پرون دې ویل راته چې مهٔ راګوره
نن راته سترګو کښې ستونه کوې

زهٔ دې له غمه شوګیرې کومه
تهٔ یې بې غمه خپل خوبونه کوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اخلاق

چې دَ بل په غم غمجن په ښادۍ ښاد يې
مبارک شه بامراد يې بامراد يې

ځان شاګرد شمېره په ورانـدې کـه تلـل غـواړې
که هر څو هم په خپل فن کښې غټ استاد يې

خامخا به ستا په غم آه و فرياد کا
که دې بل په غم کښې تهٔ هم په فرياد يې

نهٔ په ژوند او نهٔ په مرګ به دَ چا ياد شې
که قائل دَ تشدد او استبداد يې

دا دې ښکلي وو اخلاق چې نن يادېږې
که هر څو خاورې ايرې يې واوره ښاد يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

دا چې په ما پورې خندا کوې دا ښهٔ نهٔ کوې
دا ډېره غټه ناروا کوې دا ښهٔ نهٔ کوې

که حلال کړې چرګ یم یاره خو دَ ستا دَ پاره
دا چې زما دَ سر سودا کوې دا ښهٔ نهٔ کوې

پرون دې وې چې ډېر مې بدې شي شين سترګې رقیب
په ترخ کاتهٔ چې ورته بیا کوې دا ښهٔ نهٔ کوې

نهٔ ښایي نهٔ ښایي دَ ستا سره پښتونه یاره
کله چې "نا" او کله "ها" کوې دا ښهٔ نهٔ کوې

اغیار ته ونیسې لاسونه دَ دعا دَ پاره
ما خوار عاجز ته بد دعا کوې دا ښهٔ نهٔ کوې

رقیب دَ پاره مینه مینه یې وفا وفا یې
دې ما ابراش سره جفا کوې دا ښهٔ نهٔ کوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تذبذب

دا زۀ ظـــالم او کـــه مظلـــوم یمـــه زۀ
څـوک داسـې شـته چـا تـه معلـوم یمـه زۀ

څوک مې طالب ، څوک مـې ترهګـر یـادوي
مـــا تـــه را اوښایـــئ چـــې کـــوم یمـــه زۀ

هلتـه سـخي شـمه چـې ځـاے یـې نـۀ وي
دَ سـخاوت پـه ځـاے کښـې شـوم یمـه زۀ

دَ وخـت څپیـړو چرتـه لـوے کـړم کـه نـه
کـــه نـــه له هغســـې ماشـــوم یمـــه زۀ

هـــر څـــو کـــه مـــا جګـــه شـــمله تړلـــې
والله کـــه پـــوے یـــې پـــه مفهـــوم یمـــه زۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# طمع

چې ظلمونه په خوارانو رنګ په رنګ که
خدایه دا فراخ جهان په هغو تنګ که

چې یې مخ دَ مسلمانو ځنې واوړي
غیر مسلم خدایه په خپله کښې په جنګ که

چې دَ غیر په خلهٔ مې وژني ورانوي مې
حیرانیږم چې افغان دغسې څنګ که

ورانوي چې زما خړې خوارې خونې
محلونه دَ دې غټو ږنګ که

چې منګلې یې دَ خوار په وینو سرې دي
هم دغسې یې په خپلو وینو رنګ که

طمع توکه به ابراش دَ چا نه وکړم
چې افغان هم عادتونه دَ فرنګ که

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ټپې

چې به زرغون شي خیال مې نهٔ شي
په بلنزینه مې لونګ کړلي دینه

که دې دَ بل چا خاطر وکړهٔ
امید لره چې به دَ ستا خاطر کوینه

اول دَ زمکې خاطر وکړه
پس له خاطره ترینه غواړه سرهٔ ګلونه

چې یو نظر یې وینم نذرونه مې منلې
پسونه مې منلي دي ډېر پسونه مې منلي

تل به ډنډر وي ګل به نهٔ شي
څوک چې په للمه دَ ګلونو کر کوینه

الله په زړو نو کښې اوسیږي
کم عقله مه ازاروه دَ خلقو زړونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تــهٔ کــه دَ بــل پــه غــم ښــادي کــړې
دَ ســتا پــه غــم بــه خامخــا ښــادي کوینــه

تــهٔ کــه دَ بــل پــه غــم خوشــحال وې
دَ ستا په غـم بـه هـر سـړے خوشـحاله وینـه

دا تـــهٔ یـــې چـــې کـــوې جانانـــه ســـتمګره
دې مـــا سره معملـــې جانانـــه ســـتمګره

چـــې مســـافر دَ بـــل وطـــن شي
دَ خپـل وطـن ارمـان بـه ولـې نـهٔ کوینـه

ســـتا دَ یـــادونو سره یـــاره
په بل وطن کښـې ورځـې شـپې صـبا کومـه

ډېـــر راتـــه یـــادیږي مســـافر جانـــان
یـــه خدایـــه رایـــې ولـــې زر جانـــان

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشـــــنا کـــــه تـــــهٔ راسره نـــــهٔ وي
مســـافرۍ کښــــې راسره وي ســــتا یادونـــه

اخـــتر پـــه کـــور کلـــي کښـــې خونـــد کـــړي
دَ مســـافرو څـــهٔ اخـــتر څـــهٔ یـــې خوندونـــه

دَ مســـــــــافرو څـــــــــهٔ ژونـــــــــدون وي
خواراک یـې غـم وي پـه ډګـر کـوي خوبونـه

بـــاور وکـــه اشـــنا چـــې دې کالونـــه نـــهٔ راځـــي
خوبونـــه نـــهٔ راځـــي مـــا له خوبونـــه نـــهٔ راځـــي

❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

چې دَ غضب کاتهٔ نګار وکړي
ورته به پلار دَ چا اظهار وکړي

دَ شوندو اوریې ما لمبه کړي
چې صفتونه دَ اغیار وکړي

په یو نظر یې یم بار بار وژلے
که داسې نهٔ ده بیا دې لار وکړي

رقیب ته کړي په نهٔ غوښتو ستونه
ما ته په غوښته هم انکار وکړي

رښتیا وعده یې دَ رقیب سره وي
په مونږه هسې انتظار وکړي

وړو ته وایي ابراش داسې ولې
کانې راواخلي په ما وار وکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# چیلنج

دَ خپـل نیکـهٔ پـه پـل روان پښـتون همـت لرمـه
پښتو مـې دیـن پښـتوایمان پښـتون همـت لرمـه

تنکی غـوټی بـه دَ ازغـو پـه بـڼ کښـې وټوکـوم
باغ به پیدا کړم هم بـاغوان پښـتون همـت لرمـه

پښتو به هم وي راسره دَ خپـل شـین غـر دَ پاسـه
بیا بـه تپـه کـړم یـا قربـان پښـتون همـت لرمـه

میئن به دوي هم په پښتو لکه دَ ځان غوندې کړم
دغه ښایسته ښکلې ځوانـان پښـتون همـت لرمـه

که دَ اغیار خېټه خوږیږي لږي شک په زړهٔ کښې
چیلنج دا ګز دے دا میـدان پښـتون همـت لرمـه

❄❄❄❄❄❄❄❄❄❄❄❄❄❄❄

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سرهٔ ګلونه

ماشـــــومان دَ ســـــتا دَ کلـــــي
مـــا پـــه لوټـــو کانـــو ولـــــي

دا چـــــې داســـــې راپســـــې دي
لکـــه تـــا چـــې ورتـــه ویلـــــي

کـــــه دا تـــــا ورتـــــه ویلـــــي
مـــا پـــه سر ســـترګو منلـــــي

راتـــــه نـــــور مخونـــــه هـــــیڅ دي
چـــې مـــې ســـتا مـــخ تـــه کتلـــي

کـــه مـــې سر دے او کـــه مـــال دے
مـــا پـــه تـــا بانـــدې بایللـــــي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ســـــتا دَ چـــــم دَ ورړو کاڼـــــي
سرۀ ګلونـــــه ښکلــــــي ښکلــــــي

ګمـــــان مــــــۀ کــــــوه جانانــــــه
چـــې ابـــراش بـــه ترینـــه زغلـــي

## درې شعرونه

لکه ازغے مې زړۀ کښې ښخ يې زما ګلـه يـاره
زمادَ زړۀ نه به بيرون نـۀ شـې هـيڅ کلـه يـاره

زۀ به دې خپل ګڼم يو ځل مې درته خپل ويلـي
تۀ مې پردے پـردے ګڼـه يـه زمـا خپلـه يـاره

دا دَ زړۀ وباســه چــې زۀ بــه دې دَ زړۀ وباســم
زما په زړۀ کښې بـه اوسـېږے تـل ترتلـه يـاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# انتظار

نـهٔ دَ چـا دَ سـترګو تـوریـم نـهٔ دَ چـا دَ غاړې هـاریـم
دا دَ چـا دَ پـاره ژونـد کــړم دا دَ چـا پــه انتظـاریــم

دَ اُمیـد ډیـوه مـې مـړه ده اسـتوګن یـم پـه ظلمـت کښـې
نهٔ مې دوست نهٔ مې احباب شته په ګرفت کښې دَ اغیار یم

چا طالب او چا ترخګر کړم، ډېرې خلې ډېرې قیصـې دي
تل په نوي نـوم یـادېږم دَ هـر چـا سـترګو کښـې خـاریـم

پـه مثـال دَ نابینـا یـم، تـل پـه پټـو سـترګو یـون کـړم
دَ مـنزل پتـه یـې نشـته زهٔ روان پـه داسـې لاریـم

همېشـه چـې دَ بـل بـار تـه نګوسـار وي مـرد هغـه دے
زهٔ کـه مـرد یمـه نـامرد یـم، چـې دَ بـل پـه اوږه بـاریـم

❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پېغله افغانۍ

نشــه یــې ده پــه سر کښــې دَ خــانۍ او امــیرۍ
نـو دا بـه څنګـه پـوي کـړم پـه معنیٰ دَ غریبـۍ

دا کس دَ دې لائق نۀ دے چې ورکړو سرۀ ګلونه
راځۍ چې ورته واچـوو نـن غاړې کښــې رسـۍ

راځۍ پښتنو نن چې دا مغل پښتون راتېنګ کـړو
سم دم به شي چې وخوري په دې سریوځوځپلۍ

په ژوند یې چې په سترګو مجبوري لیدلې نـۀ وي
هغـه بـه احسـاس څـۀ وکـړي دَ بـل دَ مجبـورۍ

مغـل بـه شـاعرۍته زمـا هسـې داسـې وایــي
افغـان تــه بــه ښـــکاریږي لکــه پېغلــه افغــانۍ

لعلونه بـه ګڼـي دې مـا اَبـراش خټـک شـعرونه
پـوهېږي چـې کـوم خلـق پـه معیـار دَ شـاعرۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

نــهٔ مــني قــدغن زړهٔ مــې لیــدهٔ غــواړي
دغســې ســتا زړهٔ غــواړي کــه نــهٔ غــواړي

راوله دَ زړهٔ خــــبره شــــوندو تــــه
ووایــه پــه جــار چــې څــهٔ دې زړهٔ غــواړي

درشـــم او کـــه نـــه دا راتـــه ووایـــه
زړهٔ خــو مــې نــن خامخــا درتلــهٔ غــواړي

دا کــه دا قیصــه زمــا او ســتا تــر میــنځ
مینځ کښې دا رقیب پکښې بیا څهٔ غواړي

پــوي دَ شرافــت پــه ژبــه نــهٔ شــولو
ښــکاري راتــه دا چــې ډیــدهٔ غــواړي

ښــهٔ پــوهېږم ښــهٔ وربانــدې زهٔ ابــراش
دا ظالمــان چرتــه زمــونږ ښــهٔ غــواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

دَ رقیـــب ګوتـــه بـــرملا مـــه نیســـه
زړۀ مـــې دَ اور پـــه لمبـــو بیـــا مـــه نیســـه

ســـاقیه پـــام کـــوه بـــې قـــدره بـــه شـــې
جامونـــه ډک ورتـــه بیـــا بیـــا مـــه نیســـه

غاړه مـــــې ونیســـــه چـــــې زۀ او تـــــۀ وو
پـــه ډک محفـــل کښـــې مـــې اشـــنا مـــه نیســـه

تـــن مـــې تکـــړې کـــه تـــۀ پخپلـــه خوښـــه
خـــو پـــه وینـــا مـــې دَ بـــل چـــا مـــۀ نیســـه

چـــې دې سرۀ کـــړي دي زمـــا پـــه وینـــو
دغـــه لاســـونه اوس پـــه شـــا مـــه نیســـه

وښـــایه مـــا اَبـــراش تـــه بلـــه ګنـــاه
ده غریبـــې پـــه ګنـــاه مـــا مـــه نیســـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سیم و زر

خود بـه درتـه ځـان وایـم چـې ځـان دې رانـه وړې دې
ځکــه دې غــلام یــم چــې ایمــان دې رانــه وړې دې

کفر ته دې ګډ کړم خوې خصلت مې دَ کفـارو شـول
هغــه خــوې خصــلت دَ مســلمان دې رانــه وړې دې

ژونـد دَ بـې ننګـۍ کـوم چـې تـا سره مـې مینـه شـوه
هغــه نــام و ننــګ دَ نــر افغــان دې رانــه وړې دې

کــړم دې لیــونۍ صــبا دَ ســتا، بیګــا دَ ســتا فکــر
فکــــر دَ رحــــیم او دَ رحمــــان دې رانــــه وړې دې

څـهٔ چـارې دې وکـړې پـه مـا یـه دَ سـیم و زر مینـې
دیــن دې رانــه وړې دې قــرآن دې رانــه وړې دې

دومــره بــې قیمتــه نــهٔ وهٔ ځــان دې مــا ابــراش خټــک
نــن شــومه خــبر چــې ډیــر ارزان دې رانــه وړې دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

څـهٔ دې کـړم دَ خـو دې کـړم دا څـهٔ کـوې
ګرانــه بــې پښــتو دې کــړم دا څــهٔ کــوې

مـا وې دا پښــتون سر بــه مــې ټيــټ نــهٔ شي
نــن پــه ټيټېــدو دې کــړم دا څــهٔ کــوې

مخکښې دې ډېر زيات ومــه پــه زړهٔ کښــې زهٔ
اوس پــه کمېــدو دې کــړم دا څــهٔ کــوې

ســـــخته دې يـــــوه دَ بلـــــې ســـــخته وې
مــړ پــه اندېښــنو دې کــړم دا څــهٔ کــوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا دَ پاره ستا کوڅې ته څم راځم
خوب دَ لیونو دې کړم دا څه کوې

نهٔ دې شي پیرزو په ما دَ سمې ژوند
سر په تورو غرو دې کړم دا څهٔ کوې

اوس مې دَ زړهٔ گل اییاري نهٔ کوې
بس په رژیدو دې کړم دا څه کوې

هر وخت مرور وې اَبراش څهٔ وکړم
سترې په جرگو دې کړم دا څهٔ کوې

❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖

****************************************

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

دیدنونــه بــه نــن وۀ شي او کــه نــه
دا زخمــي زړۀ بـه مـې ښـۀ شي او کـه نـه

دا زمـــا دَ خـــوږ زړګــي آه و فریـــاد
ګرانــه تـا تــه اوریــدۀ شي او کــه نــه

په پاخه خُلۀ چې لوزونـه تـل اومـۀ کـړي
دا لوظونــه بــه پاخــۀ شي او کــه نــه

چې مې سترګو ته ځیر ګورې رېښتیا وایـه
تاتــه ځــان پکښــې لیـدۀ شي او کـه نـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پالـــــي پـــال وګـــوره دا راتـــه وښـــایه
زړهٔ زمـــا بـــه زمـــا زړهٔ شي او کـــه نـــه

دا چـې نـن تراخـهٔ تراخـهٔ دي بـې له تانـه
دا وختونـــه بـــه خـــوارهٔ شي او کـــه نـــه

خُلهٔ خو خُلهٔ ده دَ اغیار چې ستا په خُلـهٔ ده
خُلهٔ دې ما اَبراش بـه خُلـهٔ شي او کـه نـه

❖ ❖ ❖ ❖ ❖ ❖ ❖ ❖ ❖ ❖ ❖ ❖
❖ ❖ ❖ ❖ ❖ ❖ ❖ ❖ ❖
❖ ❖ ❖ ❖ ❖ ❖
❖ ❖ ❖
❖

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سودا

خُلـهٔ دَ سـتا خـو پکښــې ژبــه دَ بــل چـا ده
ګرانـــــه ډېـــــره دَ افســـــوس خــــبره دا ده

هــر یــو کار چــې تــهٔ یــې کانــدې دَ زړهٔ سره
زهٔ یـــې ویـــنم دَ رقیـــب پکښـــې رضـــا ده

دا چــې تــهٔ ورتــه پــه سرو شــونډو موســېرې
دَ رقیـــب خلـــهٔ ځکـــه ډکـــه دَ خنـــدا ده

څـهٔ ګنـاه او څـهٔ خطـا خـو پـه مـا پـور کـه
دا چــــې تـــل یــــې راکـــوې دَ څــــهٔ سزا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکــــرمن زۀ دَ ســــتم او سزا نــــۀ یــــم
هــاې افســوس چــې دَ تــور نیتــو پــه وینــا ده

دَ کم اصلو په تور نیت دي خداے خبر که
تــــل پــــه خلــــۀ او پــــه زړۀ دا زمــــا دعا ده

کــــه دي یــــو دیــــدن دَ سر پــــه بــــدله وي
مــــا اَبــــراش لــــره قبــــوله دا ســــودا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خطا

پـه رخسـار دې لکـه اوښـکه تـل بهیـږم
دا چــې ولــې دې تــر لبــو نــهٔ رســېږم

ســـتا یادونـــه راسره وي بـــاور وكـــه
كه هر څو په تورو غرونـو كښـې اوسـېږم

دَ صورت وینه مې وچه رنګ مې زېـړ شـو
هـر چـا ولیـدم خـو تـا تـه نـهٔ ښـكارېږم

چــې دې بــدې شــمه دومــره دَ زړهٔ سره
څـهٔ ګنـاه څـهٔ مـې خطـا ده نـهٔ پـوهېږم

تش كاتهٔ چې ډک محفل كښې راتـه وكـړې
خدایے قسم چې په جامو كښې نهٔ ځـایېږم

سـتا نظـر پـه مـا اَبـراش كلـه پریـوزي
كه هر څو درته زهٔ وړاندې وروسـتو كېـږم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مسافر

چې بې وطنه بې جانانه یې اختر تیریږي
څهٔ قیامتونه به په زړهٔ دَ مسافر تیریږي

نصیب یې نهٔ شول دَ پلنګ نهٔ دَ بستر خوبونه
هره لمحه یې بې بالینه په ډګر تیریږي

تل مخامخ وي مسافر دَ لوړو تندو سره
دَ ژوندانهٔ ورځې یې دغسې اکثر تیریږي

❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖
❖❖❖❖❖❖❖❖
❖❖❖❖❖
❖❖❖
❖

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پښتو

زهٔ پښــــتو کـــه هـــر پښـــتون ترــوکلې یـــم
داســې هــم یـو شـته چې یې ســتایلې یـم

شکر دې په خلهٔ کښې خو یې پاتې یم
خبــر دې کــه ده زړهٔ نــه یــې وتلــې یــم

ځــیر کــه راتــه وګــوري دَ نــن پښـــتون
کمـــه دَ چـــا نـــهٔ یـــم ډېـــره ښـــکلې یـــم

ژبـــه یـــې پـــه بلـــه ژبـــه نـــهٔ خـــوزي
یـو ځـل یې چې زهٔ پـه ژبـه ویلـې یـم

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس مـــې یـــو پښـــتون جانـــان مونـــدلے دے
ځکـــــه مقـــــابلې تـــــه راوتلـــــې یـــــم

بیا مې لاس وهـې پـه تـور اوربـل کښـې نـن
بیـا یـې نـن شـین غـر تـه خېژولـې یـم

مـرې کـه پـاتې کېـږې غېـر زمـا پـرې څـۀ
ښـــۀ دَ چـــې اَبـــراش پـــه لاس نیـــولې یـــم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

هغـه چـې پـه کاتـۀ شي دا زړۀ مـې داسـې داسـې
ګـوګل نـه پـه واتـۀ شي دا زړۀ مـې داسـې داسـې

تـالې خورمـه ځنګېـږم دَ فکـر پـه تـالونو
زلفان يې چې خـوارۀ شي دا زړۀ مـې داسـې داسـې

چـې ځـير راتـه وګـوري هغـه پـه اودو سـترګو
هـر زخـم مـې اودۀ شي دا زړۀ مـې داسـې داسـې

والله چـې مـا پښـتون کـړي بانـۀ تېـرۀ تېـرۀ يـې
رانېـغ چـې پښـتانۀ شي دا زړۀ مـې داسـې داسـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نظم مستقبل دَ پاکستان

دَ ماسخوتن ګپ — دَ پیښور اے پي اېس واقعه

ماشوم:

خـوراکې تـا له بـه دَ سرو ښـکلې والـې راوړمـه
تنـدي له ټیـک هـم بـه دې پـوزې له نتکـې راوړمـه
باباجـي! تـاله بـه هـم ښـکلې شـملاګۍ راوړمـه
مورجـانې تـاله بـه هـم ښـه ښـکلې شـاړۍ راوړمـه

ملالے تـهٔ ولـې خفـه یـې تـاله څـهٔ راوړمـه
تـاله بـه سـپین او سرهٔ پـاپړ او ډېـر خـوارهٔ راوړمـه

خـو دا بـه هلـه راوړم کلـه چـې زهٔ ځـوان شـمه
جـوړ چـې دَ علـم پـه قـوت غـټ پهلـوان شـمه

مور بـي بـي:

دا ارمانونـه دې پـوره کـړه خـدا ے زمـا بچیـه
زمـا پـه خلـهٔ او پـه زړهٔ دغـه دَ دعا بچیـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ســـتا مســـتقبل دې وي روښـــان رڼـــا رڼـــا بچيـــه
تـــل دې ودانـــه وي پـــه تـــا زمـــا دنيـــا بچيـــه
بـس دې اوده شـه نـور مجلـس بـه کـوو بيـا بچيـه

ښـه دَ مورجـانې لـږ هـوم ورک کـوم اوده بـه شـمه
چې څهٔ نـه څـهٔ وکـړم، پـوهېږم څـهٔ نـه څـهٔ بـه شـمه

پـه دې وړهٔ وجـود يـې دومـره غټـه شـپه تېـره کـړه
دَ څـهٔ نـه څـهٔ دَ پـاره شـپه يـې شـوګيره تېـره کـړه

اوبـهٔ مـې ګرمـې کړلـې مـورې اودسـونه وکـړې
هلـه راپـاڅې اذان شـوے دے مونځونـه وکـړې
دَ خپـر دَ پـاره دعا اوغـواړې نفلونـه وکـړې
الله پـه غوښـته خوشـحاليږي تـرې سـوالونه وکـړې

مورجـانې مـا تـلاوت کـړې مـا نفلونـه کـړي
دَ لوے خدائے نه مې سوالونه غرونـه غـرونـه کـړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ پاکستان دَ ترقۍ او خوشحالۍ دَ پاره
په خصوصي توګه دَ دې دهشت ګردۍ دَ پاره

دَ سکول جامې مې اچولې دي تيار يمه زۀ
وېن به رادرومي بس دَ وېن په انتظار يمه زۀ

لکه چې وېن راغے مورجانې هارنونه کوي
زما دوستان هم دَ بهر نه اوازونه کوي

هله مورجانې په تېفن کښې راله څۀ واچوه
نيمه اګۍ ورسره نيمه پراټۀ واچوه
مورجانې لږ راله دې سترګو کښې رانجۀ واچوه
خوراکۍ تۀ راله دې متو کښې بستۀ واچوه

مورې رخصت راکوه لاړمه دَ خداے په امان
څۀ په خندا خندا خپل سکول ته لاړل دا ماشومان

(c) ketabton.com: The Digital Library



خــو دا خنــدا دَ هــر ماشــوم شــوه پــه ژړا بــدله
پــه یــو ســاعت کښــې شــوله دا خــواږه فضــا بــدله

ځـو ټوپـک زنـو پـه دې سـکول بانـدې حملـه وکـړه
ټــولې نــړۍ دَ دغــــې ظلــــم ننــــداره وکـــړه

مــهٔ وژنــه مــهٔ مــې وژنــه زهٔ ماشــوم نــادان یمــه
زهٔ خــو دَ هیڅـــا نــهٔ دَ ســود او نــهٔ دَ زیــان یمــه
زهٔ دَ ادکــې مــور دَ خــوږ زړګــې درمــان یمــه
تــهٔ هــم انســان یــې آخــر زهٔ هــم یــو انســان یمــه

دغســې نــهٔ ده چــې فقــط زمــا دَ ځــان قاتــل یــې
زمــا دَ مــور بــې بــې زمــا دَ باباجــان قاتــل یــې
دَ انســانیت قاتــل یــې هــم دَ مســلمان قاتــل یــې
زمــا دَ دیــن قاتــل یــې هــم مــې دَ ایمــان قاتــل یــې
دَ وخــت قاتلــه تــهٔ زمــا دَ هــر ارمــان قاتــل یــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَپښتو نخوا په هر یو کور کښې دې ویرونه جـوړ کړل
زمـا دې زړه پېښـور زړۀ کښـې دې زخمونـه جوړ کړل
ظالمـه تـا خـو دَ ظلمونـو ریکارډونـه جـوړ کـړل
دَ ماشــومانو دَ سرو وینــو دې ډنډونــه جــوړ کــړل

زمــا تــور سرې او ګلونــه ماشــومان قتلــوې
دا ماشــومان نــه، ډاکټــران پروفېســران قتلــوې
دې مــا اَبــراش خټــک مــذهب زمــا ایمــان قتلــوې
پــه حقیقــت کښــې مســتقبل دَ پاکســتان قتلــوې

خــو دا مــې واوره اې قاتلــه پــه کهــلاو غوړونــو
بــدل بــه اخلــم درنــه زۀ پښــتون دَ دې ظلمونــو

تــل بــه دَ ســتا دا دَ ظلمونــو سلســلې نــۀ وي
زمــا پــه وینــو بــه تــل ســتا منګلــې سرې نــۀ وي

ســتا دا منګلــې تــر څنګلــو کــټ کــولې شــمه
دغســې تــا هــم پــه سرو ســترګو ژړولــې شــمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مظلوم

کور کښې مې وژنې په بیدیا مې وژنې
په څۀ ګناه په څۀ خطا مې وژنې

نۀ مې کوټه نۀ مې حجره محفوظه
که په جمات کښې یم هم بیا مې وژنې

زۀ درته ګورمه بې وسه ماشوم
تۀ مې بې بې وژنې بابا مې وژنې

زۀ ستا دَ خوي خصلت پالنه کوم
تۀ زما خوي وژنې ادا مې وژنې

<><><><><><><><><><><><><>

❉❉❉❉❉❉❉❉❉❉❉❉❉❉❉

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

هغه چې نشته ده اختر څهٔ عجیبه غوندې دے
هر ماښامےاو هرسحر څهٔ عجیبه غوندې دے

لکه غلبیل سورې،سورې،شواُف یې هم ونهٔ کهٔ
زما پښتون زخمي ځیګر څهٔ عجیبه غوندې دے

په څهٔ ګناه په څهٔ خطا ما ته دا ښهٔ نهٔ ګورې
هر یو نظر هر یو بشر څهٔ عجیبه غوندې دے

دَ حق خبره خو کوي خو حق ګویي نهٔ کوي
زما منبر زما رهبر څهٔ عجیبه غوندې دے

وایي مات ښهٔ یم او کټ ښهٔ یم تیتېدلې نهٔ شم
دا سر خوړلے زما سر څهٔ عجیبه غوندې دے

په ما ابراش یې چارې وکړې په خندا خندا کښې
دا دغې وخت دا ستمګر څهٔ عجیبه غوندې دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

تــا کــه دَ هــاړ دَ اوړي نمــر کړلــو ځــان
ما هم ګڼ سورے درون شــجر کړلــو ځــان

زۀ دَ جرګـــو نـــه پـــه شـــا رانغلمـــه
تاکــه هــر څــو هــم مــرور کړلــو ځــان

چــې پــه محشــر بــه مــې دَ اور نــه ساتــې
پــه داســې نــور مــې منــور کړلــو ځــان

تــۀ کـــه پـــه نـــۀ خـــبره شر جـــوړوې
مــا پــه امــان دَ هــر یــو شر کړلــو ځــان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

سپرلیه راشه رنګینې راوړه
مونږ له پیغام دَ خوشحالۍ راوړه

زمونږ کوڅې کنبې کوم پخوا به چې وو
هغه خوند رنګ دَ زندګۍ راوړه

سوکړه ختمه که نیستي ختمه که
مونږ له سامان دَ سوکالۍ راوړه

زمونږ دَ ژوند ناوې چې بیا سینګار شي
دَ سرو نتکې دَ سرو ولې راوړه

دَ نوي کال سپرلیه خدایے دَ پاره
دَ پیغلې شال راوړه شاړۍ راوړه

اَبراش ختک وایمه ګجې ګجې
زما رېښې رېښې پګړۍ راوړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بندګي

بې له خدایه چې دَ بـل چـا سر ټيټــي کــړم
پــه دې کار بــه ځــان له ګرانــه زندګــي کــړم

الباســـط او القـــابض چـــې هغـــه ذات دے
څــهٔ حاجــت چــې دَ بنــدګانو بندګــي کــړم

چې دَ بل دَ ژوند په لار کښې خندا او خار یـم
هم په دې بـه دَ خپـل ژونـد لاره ازغــي کــړم

هر حاجت مې دې له غیره خداے مې هېر دے
ځکه زهٔ اَبراش په ژوند کښــې اسویلــي کــړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لواغر

کــه یــې سـیمه او کــه غــر دے ماشــاءالله
لـــــواغر خــــو لــــواغر دے ماشــــاءالله

که وړۀ دي کــه ځوانـان او کــه سـپین ږیـري
دلتــــه هــــر یــــو بهـــادر دے ماشـــاءالله

دي ازاد دَ جهالـــــت تــــورو تیــــارو نــــه
لکـــه روڼ هســـــې قمـــر دے ماشـــاءالله

پــه لیــدو یــې چــې بیمـار زړونــه رغیــږي
عجیبـــه یـــې مـــازدیګر دے ماشـــاءالله

دغـــه دواړه یـــې دَ یـــوتر بلـــه تېـــر دي
کـــه قلـــم او کـــه خنجـــر دے ماشـــاءالله

زۀ اَبـراش خټــک بــه یــې زار دَ لـواغر کــړم
کــه مــې سر او کــه مــې زر دے ماشـاءالله

(c) ketabton.com: The Digital Library



# علم

دَ علــم پــه قــوت جــوړ زورور شــه راځــه
خاونـد دَ هـر يـو خـيز دَ بحـر و بَـر شـه راځـه

ربښـتيا طالــب علــم شــه حصـول دَ علــم وکــه
دَهــــر چـــا نـــه بهـــتر او بـــالاتر شـــه راځـــه

که علم دې حاصل کړ دا دې تـوره ده هـم ډهـال
غالــب شـه او محفـوظ دَ هـر يـو شر شـه راځـه

دَ علــم پــه رڼــا دَ جهالــت تيــارې کــه ختمــې
په تکه توره شـپه کښـې روڼ سـحر شـه راځـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظـریـې چـې تـر عرشـه لامکانـه پـورې رسي
دَ زمکـې پـه مـخ داسـې یـو نظـر شـه راځـه

دا سر په سرحساب نهٔ دے چې هر چا ته ټيټيـږي
ټيټيـږي چـې الله تـه داسـې سر شـه راځـه

دې ما ابراش خټک دې نصیحت تـه فهـم وکـه
خـبر پـه خپـل بهبـود پـه خپـل ضرر شـه راځـه

❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖
❖❖❖❖❖❖❖❖❖
❖❖❖❖❖❖
❖❖❖
❖

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ستاینه

دا دې غندنې دې هم یو جهان مننه کوم
خلۀ مې دې ماته شي چې زۀ پرې ستا غندنه کوم

بې ځایه مه کوه تنقید مې په تخلیق او تحریر
زۀ دَ تخلیق او خپل تحریر ګره کتنه کوم

ارمان پرې ورېږوه ښې ډېرې پوښتنې وکه
زۀ ډېرې نۀ کوم یوه درنه پوښتنه کوم

دا راته وایه حاسده چې تۀ ولې سوزې
زۀ چې غزل کښې دَ شین غر دَ پاسه تلنه کوم

ستا خو عادت دے که دې زۀ هر ځائے غندلې یمه
مګر اَبراش به دې په هر ځائے کښې ستاینه کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حسد

دَ کینې ډک دا خچن زړونه مـو وینځـل غـواړي
دلتـــه فضـــا دَ روږولـــی ِقـــائمول غـــواړي

حاسده تا چې په خپل حسد او کینه ساز کـړې
دا دې محـــل دا بنیادونـــه نـــړول غـــواړي

دا غټ شجر چې ایاري یې تا پـه حسـد کـړې
دَ دې شــجر دَ تنــې جــرړې کټکــول غــواړي

سُر که مُطربـه راشـه نـن دَ خپـل ربـاب تارونـه
دا فضـــاګانې دا اهونـــه ختمـــول غـــواړي

وچیـړه بیـا مسـتې نعمـې ربـاب له تڼـګ ورکـه
دا دَ غمونــو نــه ډک زړونــه خندېـدل غــواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خُلهٔ

غټان کـه بـد وايـي کـه ښـهٔ وايـي
بد يې څـوک نـهٔ ګڼـي چې څـهٔ وايـي

دا دَ غټـانو خلـهٔ ده بـاک يـې نشـته
شـپږ و تـه شـپږ او کـه اَتـهٔ وايـي

چـې پـه معنیٰ دَ پښـتو نـهٔ پـوهيږي
هغـه هـم ځـان تـه پښـتانهٔ وايـي

دې ما اَبراش خټک دې خـوارې خلـې تـه
څوک داسې شته چې ورتـه خلـهٔ وايـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خار

که خاوند یم کـه فرزنـد یـم او کـه پـلار یـم
دَ ایمـان متـاع چـې نـهٔ لرمـه خـوار یـم

دَ دنیـا متـاع کـه نـهٔ لـرم بـاک نشـته
چـې متـاع دَ دیـن لرمـه غـټ مـالدار یـم

ګلـه ګل یـې تـهٔ زمـا دَ دواړو سـترګو
پـروا نشـته کـه دَ سـتا سترګوکښـې خـار یـم

خـدائے دې تـا زمـا دَ لاسـه ازار نـهٔ کـه
سـتا دَ لاسـه کـه زهٔ سـل ځلـه ازار یـم

***************

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

نـهٔ مـې غـزل دَ مینـې اوري نـهٔ ټپـه دَ مینـې
پـه څـهٔ اټـکل جانـان تـه وکړمـه قیصـه دَ مینـې

هغـه کـه مینـه مینـه وایـي خـو دَ شـونډو پـه سر
زمـا پـه زړهٔ کښـې دَ محکمـه اراده دَ مینـې

که یې هـر څـو هـم پـه وعـدې پسـې وعـده وکـړله
مګـر پـوره یـې یـوه هـم نـهٔ کـړه وعـده دَ مینـې

دا چـې شروع ده نـن زمـا او دَ جانـان تـر مینځـه
انجـام بـه مومـي او کـه نـه دغـه ډرامـه دَ مینـې

هـر چـې راځـي زمـا پـه سر او پـه زړهٔ ښـېږي لګـوي
څوک داسې شته چې مـا له راکـړي حوصـله دَ مینـې

دا نفرتونـه دا ظلمونـه چـې خونـدي شي پکښـې
غـواړم پـه پاکـه زمکـه داسـې زلـزله دَ مینـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیرات دَ امن به ترے غواړم دَ وطن دَ پاره
جګه شمله به ورله بدم په سر تحفه دَ مینې

دا چې یادیږم په هر ځائے کښې دَ نفرت په نامه
بیا به اوچته کړم په درست جهان نامه دَ مینې

ګر دَ اُلفت دَ ګل به وکړم دَ نفرت په للمه
بیا به تخلیق کړم یوه نوې افسانه دَ مینې

جذبه دَ مینې به یې خامخا راولړزوي
که یې محسوسه کړه زما زړهٔ کښې جذبه دَ مینې

امید قوي دے چې راکوز شي دَ نفرت له بامه
که په نظر یې شوه زما په تن جامه دَ مینې

دعا کوئ چې روغه وکړي ټوپک وغورځوي
بیا ورله بیایمه اَبراش خټک جرګه دَ مینې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

دا زړۀ زما مالدار دے چې نادار ﭘﮑﺒﻨﯥ اوسېږي
دا زړه دَ ستا نادار دے چې مالدار ﭘﮑﺒﻨﯥ اوسېږي

روښان به په رڼا دَ معرفت نۀ شي هېڅکله
تر څو چې دا درهم او دا دينار ﭘﮑﺒﻨﯥ اوسېږي

دا ستا په دې يو متې زړۀ کښې خوار ځايږي کله
بس دغه څو شتۀ من خلک په شمار ﭘﮑﺒﻨﯥ اوسېږي

دا زړۀ دې تر هغې پورې په زړونو کښې مۀ شماره
تر څو چې دا مېخوار او دنيادار ﭘﮑﺒﻨﯥ اوسېږي

دَ ګلو باغيچه ده خو دَ پاره دَمالدار
دَ خوار غريب دَ پاره سور انګار ﭘﮑﺒﻨﯥ اوسېږي

❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سرې لمبې

څۀ تودې سرې مې په دې خپلې شـمزۍ تېـرې کـړې
ډېرې اندېښنې مې په دې خپلـې شـمزۍ تېـرې کـړې

نۀ مې څوک همدرد او نـۀ غمخـوار پـه سـترګو ولیـدۀ
تکې تورې شپې مې په دې خپلې شمزۍ تېرې کـړې

ختمــه یــوه نــۀ وې پــه قیصــې پســې قیصــه راځــي
څۀ ډېرې قیصې مې په دې خپلې شمزۍ تېـرې کـړې

مــۀ مــې پوښــته نــوره دا شــین غــر دَ لــواغر کســه
دغه شان درانې مې په دې خپلې شـمزۍ تېـرې کـړې

راشــه کــه مــې ګــورې پــه ایــرو کښــې له لوګېږمــه
تکې سرې لمبې مې په دې خپلې شمزۍ تېـرې کـړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

که منګلې دې هر څو کړې په اترنګ رنګ
پټ به نۀ کړے پرې زما دَ وینې رنګ

دَ ننګیال بابا په رنګ به غالب نۀ شې
وې به دغسې مغلوب ستا دا اورنګ رنګ

زۀ نمسے دَ ننګیالي بابا ننګیال یم
په عالم کښې دې ښکاره زما دَ ننګ رنګ

په باطن کښې دَ سیرت ښکلا یې ګوره
په ظاهر صورت یې مۀ غنده بد رنګ رنګ

هر یو رنګ له خپله رنګه، بویې له بویه
په لونګ کښې چا لیدلے دے دَ بنګ رنګ

زۀ اَبراش خټک دَ امن طلبګار یم
ستا په روڼ جبین عیان ښکارې دَ جنګ رنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ځان

پــه ســیم و زر رانــه ایمــان اخلــي
پــه سـپینه ورځ یــې پــه میـدان اخلــي

ســخته یــوه یــې وي له بلــې ســخته
پــه خـو خـو رنــګ مــې امتحــان اخلــي

پـوره بــه نــۀ شي دغــه خــواب دَ اورنــګ
چــې پــه دولــت بــه دې افغــان اخلــي

فرنــګ کــه مــا له ســپین و زر راکــوي
خــو پــه بـدل کښــې رانــه ځــان اخلــي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لوڅ لغړ

بــد بنــده دَ پــاک ســبحان شي بــد انــدېش
بــې مقصــده چــې ګویــان شي بــد انــدېش

پـــه یـــوه ګـــړۍ یـــوه پـــه بلـــه، بلـــه
زر منکـــر دَ خپـــل بیـــان شي بـــد انـــدېش

لکــه بــت ولاړ دَ ژونــد پــه مرحلــو کښــې
نـــهٔ روان او نـــهٔ کاروان شي بـــد انـــدېش

دَ دې خپلـــې پـــوچ ګویـــی له برکتـــه
نــهٔ ودان او نــهٔ کامــران شي بــد انــدېش

(c) ketabton.com: The Digital Library



تل آشـول کانـدي اَغــې يـې نصـيب نـۀ شي
ځـــان له تنـــدر دَ آســـمان شي بـــد انـــدېش

لـــوخ لغـــړ او اواره پـــه جهـــان تېـــر شي
نـــۀ دَ بـــل او نـــۀ دَ ځـــان شي بـــد انـــدېش

ځان که هر څۀ هر څـۀ شـمېري اخـر دا چـې
بـــې وزره بـــې پايـــان شي بـــد انـــدېش

نتيجـــه يـــې اخـــر دا شي اَبـــراش وايـــم
پـه ايمـان خـلاص دَ ايمـان شي بـد انـدېش

❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀

(c) ketabton.com: The Digital Library



# صداقت

ارتګـــــي دَ قناعــــت سره تړلــــې
کامرانـــي دَ غـــټ همــت سره تړلـــې

پوشیده دې غټ عزت په ښهٔ خصلت کښې
بـــې ارزي دَبـــد خصـــلت سره تړلـــې

بـد خصـلت دَ بـدنامۍ باعـث جـوړېږي
نېـک نامـــي دَ ښـهٔ خصـلت سره تړلـې

صـداقت او پـوچ ګویـــي دي سره لــرے
صـــاف ګویـــي دَ صـــداقت سره تړلـــې

❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جنت

نــه سر تــه بالښــت نــهٔ پــه سر چــت لــرم
خیــال لکــه اســمان هســـې اوچــت لــرم

خـــود پـــه راپســـې وي غاصـــبان دَ وخـــت
زړهٔ کښـــې چـــې جذبـــه دَ حریـــت لـــرم

تـــهٔ خـــان دَ محـــل زهٔ دَ جـــونګړې خـــان
ســـتا کـــه عـــزت شـــته زهٔ هـــم عـــزت لـــرم

تـــا تـــه مبـــارک شـــه دَ بنګلـــې جنـــت
زهٔ پـــه خپلـــه خونـــه کښـــې جنـــت لـــرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



تــهٔ کــه ســیم وزر لــرې زمــا پــرې څــهٔ
زهٔ دَ فکـــرو فـــن غونـــدې دولـــت لـــرم

دا چـــې مـــې اغاز کـــړل نـــن درانـــهٔ ویـــل
دا خـــو دَ درانـــو درانـــو صـــحبت لـــرم

تــهٔ چــې پــه تپــه مــې یکــه زار وکــړې
زهٔ اَبــراش پــه زړهٔ کښــې دا حســـرت لــرم

❖ ❖ ❖ ❖ ❖ ❖ ❖ ❖ ❖ ❖ ❖
❖ ❖ ❖ ❖ ❖ ❖ ❖ ❖
❖ ❖ ❖ ❖ ❖
❖ ❖ ❖
❖

(c) ketabton.com: The Digital Library



# برخه

زمـــا نـــام زمـــا مقـــام دي زمـــا فـــن
نـــام راکـــړي غـــټ انعـــام دي زمـــا فـــن

هغه ځای هغه منصب ما لره هیڅ دی
چې په کوم ځای کنبې بدنام دي زما فن

چې په کوم پلؤ مې بیایي پسې ځمه
مقتـدي دي هـم امـام دي زمـا فـن

هـم پـه دۀ مـې ابتـدا هـم انتهـا ده
هسـې نـه چـې چنـد ایـام دي زمـا فـن

برناحقه هر محفل او پـه هـر ځـای کنبـې
تـا غنـدلي پـه هـر ګـام دي زمـا فـن

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاڅــا یــې پــه غندنــه خفــه کیــږم
زمــا ځــان زمــا ګلفــام دې زمــا فــن

کــم علمــي او زمــا فــن دې سره لــرې
هــم اِدراک هــم احــترام دې زمــا فــن

چې په زور وي هغه فن وي یو څو ورځــې
چــې مــدام دې خــو الهــام دې زمــا فــن

دَ ازل کاتــب پــه برخــه کښــې راکــړې
فنــا نــهٔ لــري مــدام دې زمــا فــن

که هــر څــهٔ دې خــو دې مــا ابــراش دَ پــاره
ګل انــــدام او دل ارام دې زمــــا فــــن

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اودهٔ جذبې

چې په پښتو قربانېدلې نهٔ شم
هرګز پښتون ځان ته ویلې نهٔ شم

زما پښتو چې بې ننګې ګنې خوک
دا اوتې بوتې یې منلې نهٔ شم

دا دَ زړهٔ وباسه دَ وخت قاتله
چې زهٔ پښتون دې لار نیولې نهٔ شم

هغه چې هر پل زما سر ماتوي
زهٔ یې هم ګل په سر ټومبلې نهٔ شم

اوس به کفن په سر ترم ملګرو
بس دې نور اوښکې څڅولې نهٔ شم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلـه رهـبر، ښکلـه دَ ژونـد ترجمـان
خپـل چاپیریـال چـې زۀ لیـدلے نـۀ شـم

قلـم بـه مـات کـړم نـور بـه نـۀ لیکمـه
اودۀ جــذبې چــې ویښــولے نــۀ شــم

داسې که خلۀ وي نـو چـې نـۀ وي ښـه ده
دَ حـق وینـا چـې پـرې کـولے نـۀ شـم

ســتا دَ خــاطره خپــل خــاطر پــه لمبــو
اَبــراش خټــک نــور ســوزولے نــۀ شــم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# احترام

اورولـــــو له موقـــــع دَ کلام ورکــــــه
انعــام مــهٔ ورکــوه خېــر دې دُشــنام ورکــه

اے خاونـــده دَ نومونـــو ډېـــرو ډېـــرو
راشــه نــن خــو دې گمنــامو له نــام ورکــه

تــا نوشــلې همېشــه ډکــې کاســې دي
راشه نن خو دې مسکين له يو جـام ورکـه

دا يــو ډېــر بنــهٔ دَ شــاعر دَ پــاره ډېــر دي
دا لفظونــه خــوار شــاعر له انعــام ورکــه

که هــر څــو دَ غــټ مقـام سره گمنـام دے
دَ مقــام چــې مســتحق دے مقــام ورکــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ الـزام او دَ دُشـنام فـن خـو مـې نـۀ دے
زړۀ دَ سـتا چـې پـرې یخیـږي الـزام ورکـه

سـاه رابښـکلي دم خـتلے راتـه ښـکاري
بـس دې نـور دې تخیـل له ارام ورکـه

افـتراق پـه محبـت کښـې کلـه کلـه
محبـت له اسـتحکام او دوام ورکـه

تش پـه خلـۀ یـې دَ ادب وګـړے یـاد کـه
خـوار اَبـراش ختـک له دا احـترام ورکـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# امید

مـا هـره شـپه صـبا کـړه دَ صـبا پـه طمـع طمـع
صــبا رابانــدې تېــر شي دَ بېګــا پــه طمـع طمـع

صـبا او دَ بېګـا پـه ځـاې نـن بیـا بیـا راتـه وايــي
دا پاتې ژونـد بـه تېـر شي دا دې بیـا پـه طمـع طمـع

حقدارکــه دَ جــزا نــهٔ یــم دَ یــار خلــهٔ دَ منظــوره
سزا دې راله راکــړي دَ جـــزا پـــه طمـــع طمـــع

لا شـــمعې بلـــوم اَبـــراش خټـــک دَ امیـــدونو
پـه تکـه تـوره شـپه کښـې دَ رڼـا پـه طمـع طمـع

*****************

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وچ لرګے

چې پښتون یمه دا ځکه بد سړے یم
که نه دا چې دَ خوشحال بابا نمسے یم

څۀ ګناه او څۀ خطا خو په ما پور که
وچ په وچه دې په سترګو کښې ازغے یم

ستا دَ هر یو سوال ځواب راسره شته خو
دَ حیا او دَ پښتو نه وچ لرګے یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مغلوب

یــو پښــتون یــم دَ جنــوب کــه دَ شــمال یــم
دَ ننګیـــال بابـــا نمســـے یمـــه ننګیـــال یـــم

شخصــیت زمــا مغلــوب دے غالــب نــۀ شــوم
کـــه هـــر څـــو هـــم زۀ وګـــړے باکمـــال یـــم

څـۀ یـــې حـــد شـــته او کـــه نـــه دَ وخـــت قاتلـــه
کـــه نـــه دغســـې بـــه تـــل حـــلال حـــلال یـــم

دا زمـــا خپـــل وســـایل مـــې مســـایل دي
دَ اخـــتر دَ وړومنبـــی ورځـــې هـــلال یـــم

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرۀ زما او سپین زما دي سود يې بل خوري
په ودانې ودانۍ کښې زۀ کنګال يم

تۀ پوهېږې زۀ پوهېږم چې دا ولې
نۀ چا حل کړم نۀ به حل شم هغه سوال يم

حیثیت زما مغلو تسلیم نۀ کړو
که هر څو هم زۀ بې مثله بې مثال يم

زۀ پښتون اَبراش که څم په اسمان بره
دَ مغل دَ پاره نن هم خواب و خيال يم

❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اسلام

هــر یــو انســان چــې بــل انســان قتلــوي
پــه حقیقــت کښــې دا خپــل ځــان قتلــوي

دا مســــلم نــــهٔ دے نــــهٔ اســــلام پیژنــــې
چــــې پــــه ناحقــــه مســــلمان قتلــــوي

چرتــــه دَ پیغلــــو پــــه خــــون سرهٔ لاســــونه
چرتــــــه ګلونــــــه ماشــــــومان قتلــــــوي

نهٔ یې څهٔ خوف شته نهٔ یــې تــرس پــه زړهٔ کښــې
ظــــالم لګیــــا دے مظلومــــان قتلــــوي

ظــــــالم دَ ظلــــــم انتهــــــا وکــــــړله
پــه ســپینه ورځ مــې پــه میــدان قتلــوي

وایــم اَبــراش تبــاه شــه هغــه خلــک
څــوک چــې زمــا غونــدې خــواران قتلــوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پټ حقیقت

زۀ چې خپلــه ژبــه ســتایم ســور کافــر شــم
تــۀ چــې بلــه ژبــه ستایــې مســلمان شــې

دَ ټوپک په ځائے به لاس کښې قلم واخلې
کــه قایــل پــه فلســفه دَ باچــا خــان شــې

زۀ چــې ذکــر دَ انســان کــوم شــیطان شــم
تۀ چې ذکــر دَ شــیطان کــوې انســان شــې

چــې مــې نــوم دَ پښــتنو پــه ژبــه راشي
مــا ایــره کــړې لمبــه جــوړه دَ نــیران شــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغـــه لار دَ پرمختــــګ او ترقــــۍ ده
که میئن په خپله ژبه پـه خپـل ځـان شـي

زهٔ خویونــه دَ افغــان کــوم مغــل شــم
تــهٔ خویونــه دَ مغـل کـوې افغـان شــي

خـوار اَبـراش دې پـه زبـان دې ازار کـړې
چې خان ووینې نـو هلتـه بـې زبـان شـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مقتدي او مُلا

دلتـــه دَ ظلـــم انتهـــا ده، عجیبـــه قیصـــه ده
چرته چې ځـم زمـا قضـا ده، عجیبـه قیصـه ده

په سر مې ښېې لګـوي دواړه یـو تـر بلـه تېـر دي
کـه مقتـدي او کـه مـلا ده، عجیبـه قیصـه ده

دَ خیر ښېګړې بیخي نـوم او نشـان پـاتې نـۀ دے
څۀ عجیبـه غونـدې فضـا ده، عجیبـه قیصـه ده

په ما اَبراش یې چارې وکړې په خندا خندا کښې
څــۀ ســتمګره دا دنیـــا ده عجیبـــه قیصـــه ده

❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ورک مې کړي له ځانه په کاتۀ داسې
ورک لکه دَ کوره پښتانۀ داسې

ځنګه چې نهر بهر دَ کوره ځي
اوباسي زما نه زما زړۀ داسې

بې مقصده نۀ دي څۀ قیصه خو شته
بیا یې چې اغاز کړل تلۀ راتلۀ داسې

زۀ په تته ژبه امن غوارمه
ځنګه چې ماشوم غواړي خوارۀ داسې

ننګ یې په ډالر راځینې واخستۀ
ماته یې کړه ماته زما خلۀ داسې

✡✡✡✡✡✡✡✡✡✡✡✡✡✡✡

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حیثیت

په دې جنت جنت وطن کښې وحشیت نـهٔ مـنم
پـه پاکـه خـاوره دَ اغیـارو حکومـت نـهٔ مـنم

پښتو چې شـاته غورځـوي او انګریـزي زده کـوي
پـه پښـتانه خـاوره دَ هغـو سـکونت نـهٔ مـنم

چې نـهٔ مـني څـوک دَ پښـتون او دَ پښـتو حیثیـت
زهٔ هـم دَ هسـې داسـې خلکـو حیثیـت نـهٔ مـنم

کـوم بـې کچـه محبـت دَ خپلـې ژبـې سره
دَ غیـر دَ ژبـې پـه خپـل زړهٔ کښـې محبت نـهٔ مـنم

دَ زړهٔ حرم کښې مې تصویر بس هغه یو صورت دے
دَ زړهٔ حرم کښې بل صورت په یـو صـورت نـهٔ مـنم

هر څهٔ چې وي نو مخ نیوے به یې مونږ خپلـه کـوو
اَبـراش خټـک دلتـه دَ غیـر مـداخلت نـهٔ مـنم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دړګوهر

زمـا فــن زمــا کمــان دے زمــا تــیر دے
دَ حاســد پــه زړهٔ رســا لګــي دلګــیر دے

نــهٔ دَ زلــف نــهٔ دَ لــب نــهٔ دَ رخســار دي
چې تخلیق مــې دَ تعمــیر دے بېنظــیر دے

دړګـــوهر دي دَ شـــعور خاونـــد دَ پـــاره
ما چې کړې کوم تخلیق او کوم تعمـیر دے

پـــــه برکــــت دَ عاقلانــــو مشــــــرانو
په قلم کښې زما زور خلهٔ کښې تـاثیر دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ حاسد حسد مې مخ پــه وړانـدې بیایــي
بې وقوف دے چې زما پــه فـن زهـیر دے

خواهشات مې تړل تر بنپو دي لاندې کړي
ما خپل نفس کلـک تـړلے پـه زنځـیر دے

زۀ قایــل دَ هســـې داســـې پـــیری نـــۀیم
پیر مـې هغـه چې دَ سـل پیرانـو پـیر دے

مـــا ابــراش ختہــک پخــوا ؤ چـــې لیـــدلے
نن موندلې مـې دَ هغـه خـواب تعبـیر دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بېنظیر

نــهٔ تغــیر او نــهٔ دَ ســتا غونــدې پــه ویــر یــم
چـــې قایـــل دَ بیـــداری او دَ شـــبګیر یـــم

هــر یــو حِــس او هــم ضــمیر زمــا ژونــدے دے
نــهٔ دَ ســتا غونــدې بــې حِســه بــې ضــمیر یــم

تـــاله خپلـــه بدایـــي امـــیري بنایـــي
زهٔ پــه خپلــې غریبــۍ کښــې غــټ امــیر یــم

بـــې بقــا دي خوشــحالۍ پــه دي جهــان کښـــې
پــه یــوه ســاعت خوشــحال پــه بــل دلګــیر یــم

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـــال متـــاع دَ دې جهـــان امـــيري نـــهٔ ده
دَ ايمـــان متـــاع چـــې نـــهٔ لـــرم فقـــير يـــم

کـــړهٔ ورړهٔ مـــې کـــه هـــر څـــو دَ ځـــوان زلـــمي دي
پـــه خيـــالاتو کښـــې پـــه مثـــل دَ يـــو پـــير يـــم

چې مې ځان دَ ستا په رنـګ رنـګ کـړے نـهٔ دے
نـو بـه څنګـه سـتا دَ مينـې دعـوىٰ ګـير يـم

چـــې عنـــوان مـــې دَ غـــزل بينظـــير کېښـــود
اَبـــراش ځکـــه پـــه ادب کښـــې بېنظـــير يـــم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رڼــا

ښــکلې پــه دنیــا دې کــړم هــم ښــکلې پــه عقــبیٰ دې کــړم
تــــا چــــې پــــه اعلیٰ نظــــر راوکتــــل اعلیٰ دې کــــړم

دغــــه زمــــا خلــــۀ چرتــــه او داســــې خندېــــدۀ چرتــــه
دا دَ ســـتا عطـــا ده چـــې نـــن داســـې پـــه خنـــدا دې کـــړم

ســــتا دَ ســــخاوت او نفاســــت اثــــر مــــې واخســــتۀ
پاک دې کړم، بې باک دې کړم، سخي دې کړم پارسا دې کړم

ورک ومــــه گمنــــام ومــــه بیخــــي لکــــه چــــې نــــۀ ومــــه
ډېــــر ډېــــر تشــــکر مهربانــــي چــــې راپیــــدا دې کــــړم

چرتــــه زمــــا سر او دانایــــي او بینــــاي چرتــــه
دا هــم ســتا احســان دے چــې بینــا دې کــړم دانــا دې کــړم

چرتــــه دا مقــــام او چرتــــه زۀ مســــکین ابــــراش ختــــک
تکــــه تــــوره شــــپه ومــــه رڼــــا دې کــــړم صــــبا دې کــــړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ژوند

تــهٔ زمــا دَ ژونــد خــوارهٔ او تــهٔ یــې خونــد
بــې له تــا پیکــه پیکــه دې زمــا ژونــد

لکــه لال چــې پــه ایــرو کښــې نــهٔ پټیــږي
داســې تــهٔ یــې پــه خوبــانو کښــې څرګنــد

دا کمــال دے ســتا دَ مینــې زمــا نــهٔ دے
چــې یــې زهٔ کــړم ســخن ور او هــنر منــد

سر نګــون او حاجــت منــد دَخپــل دلــبر یــم
خــدائے مــې مــهٔ کــړه دَ بــل هیچــا حاجــت منــد

اے باطلــه پــه کهــلاو غــوږو یــې واوره
یــار زمــا او زهٔ دَ یــار سره پیونــد

زهٔ ابــراش ختــک یــې نــهٔ شــم هیــرولے
اے واعظــه راتــه مــه کــوه دا پنــد

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رحمت

باران په ماوريږي دَ دوران دَ ستمونو
علاج به راله څوک وکړي دَزړهٔ دَ پرهرونو

وطن ازغي ازغي زما هم تن زخمي زخمي
مطربه قيصه مه چيړه دَ تار او دَ سازونو

زما پښتنه پيغله جل وهلې ځنې سپورې
خبرې راته مه کوه دَ زلفو دَ تالونو

دَ زمکې په مخ نشته نن بېخي لکه چې نهٔ وو
يادونه مې په زړهٔ کښې شته دَ دنګو چنارونو

کوم به تا هم خامخا زما دَ جانان غمه
که لږ غوندې اوزګار شم دَ دوران دَ دې غمونو

دَ غم تورې وريځې به رحمت را اوريږي
لا شمعې بلوم اَبراش ختک دَ اميدونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ښېپې بربنډې

زما کلې زما کور تهٔ یې وینې او که نه
چې ایره شو لکه سکور تهٔ یې وینې او که نه

چاټوپک لاس کښې راوړے چا خنجر لاس کښې نیولې
ازمایي چې ما زور تهٔ یې وینې او که نه

ځنې سپورې شونډې تراړې تورو غرونو کښې روانه
دا زما پښتنه خور تهٔ یې وینې او که نه

داماشوم په خېټه اوږے دا په سرهٔ نمر چې روان دے
ښېپې بربنډې او سرتور تهٔ یې وینې او که نه

مستقبل به دَ دهٔ څهٔ وي دا ماشوم چې رالوېږي
نهٔ یې پلار شته نهٔ یې مور تهٔ یې وینې او که نه

❁❖❁❖❁❖❁❖❁❖❁❖❁

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خزان

دَ دې وطن خواران چې وچه ډوډۍ هم نۀ مومي
زۀ دَ چرګانو، پلاونو قیصه ښکه وکړم

چرته سورۍ شوم په ټوپک چرته ټکړې په خنجر
په داسې حال کښې دَ خوندونو قیصه ښکه وکړم

مرۍ مې کټ شوه په تبغونو سر مې پانې نۀ شو
زۀ دَ شملې او دستارونو قیصه ښکه وکړم

په تته ژبه چې مم، مم وایي بې بې لټوي
دَ دې ماشوم دَ خلې آهونو قیصه ښکه وکړم

په پښتونخوا کښې چې الوزي دَ خزان بادونه
اَبراش خټک دَ بهارونو قیصه ښکه وکړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نا اشـــنا

هــر ســاعت چــې دَ دنیــا پــه تمنــا یــم
زۀ پــه کومــه خلــۀ دا وایــم چــې دانــا یــم

کـــه اشـــنا یـــم خـــودَ غیـــرو دَ مذهبـــه
هـاے افسـوس دَ خپـل مذهبـه نـا اشـنا یـم

که همېش مـې عـزت لـوټ شـو دَ تـورسرو
زۀ یـــې نـــۀ ویـــنم پـــه برغـــو نابینـــا یـــم

کـــه وارۀ زمـــا دَ چـــم پـــه چغـــو سر دي
زۀ بې غمه په خپل کـور کنبـې پـه ګـډا یـم

دا ده خپلــــــې مـــــــورنۍ ژبــــــې ازار دے
دا چې نن پښتون پـه درسـت جهـان رسـوا یـم

❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

تول ښکلي پسخېږي دَ ستا حسن تـه
وړاندې ورروستو کېږي دَ ستا حسن تـه

ګل کـه درتـه وایـم خـو دَ مینـې نـه
ګل کلـه رسـېږي دَ سـتا حسـن تـه

ګل چې ستا دَ سروې په شان قـد ويـني
خـود بـه خیرانېـږي دَ سـتا حسـن تـه

څنګـه درنـه سـوال دَ بوسـې وکړمـه
خلۀ مې نۀ جـوړېږي دَ سـتا حسـن تـه

هــر يــو نــازنين دَ ســپېلني غونــدې
ښۀ دې چې لـوګېږي دَ سـتا حسـن تـه

وايمـه ابـراش چـې دا کېـدے نـۀ شي
بـل چـې وررسـېږي دَ سـتا حسـن تـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تور خال

پــټ پــنهم دې کړمــه بــې تېغــه حــلال
چــا بــه نــهٔ وي کــړې دغســې کمــال

له چشــــمانو زمـــا اوښـــکې داسې اووري
لکـــه اووري چـــې بـــاران پـــه پشـــکال

مــودې وشــوې چــې له کلـــي مســافريــم
نــهٔ مــې حــال پوښــتې دلــبره نــهٔ احــوال

نــن خــو يــا راتــه جانانــه ډېــر يــادېږي
ســتا پــه ســپينه غونــډه زنــه کنبــې تــور خــال

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ کـــرم نظـــر پـــه مـــا مســـافر وکـــړه
دا منــــت درتــــه کومــــه او دا ســــوال

پـه محفـل کښـې چې بـه تـا تـه نېغ کاتـۀ کـه
دَ بــل بنــکلي څــۀ جــرأت او څــۀ مجــال

ډیلیــتې کــړے دې اَبــراش لکــه دَ زړۀ یــم
نــۀ دې کال راځــي جانانــه نــۀ مِــس کال

❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖
❖❖❖❖❖❖❖❖
❖❖❖❖❖
❖❖❖
❖

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ثوکی

ثـوک چـې تـا نـهٔ مـني، رهـبریـې ګڼـې
دَ ســتا چــې سر مــاتوي سریــې ګڼــې

زهٔ ســخن وریــم ســخن ور نــهٔ شــومه
هغــه چــې نــهٔ دې ســخن وریــې ګڼــې

پـه خـوار نـادار بانـدې چـې نـه پرېـوزي
نظــر کــه نــهٔ دې هــم نظــریــې ګڼــې

دَ ستا په ژوند چې لکـه شـپه خـور شـوې
په برغو روند شـې سـپین سحریــې ګڼـې

نهٔ یـې ثمـر شـته نـهٔ یـې سـیورے پـه چـا
کــه وچ ډنــډر دې درون شــجریــې ګڼــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چــې دَ مقــام او دَ شــوکې خاونــد دے
کــه بــې بصــر دے مبصــريــې ګڼــې

دَ امــــیرۍ او دَ شــــوکې پــــه وجـــه
دغــه خســنې لکــه غــريــې ګڼــې

سیورے يې هم شـته او ثمـر هـم پکښـې
چـې بـې شـوکې دې وچ ونـدريـې ګڼـې

غريب کـه سرۀ وايــې پـه سـپينو حسـاب
امـیر کـه سـپین وايــې سرۀ زريـې ګڼـې

اَبــراش ختــک دَ غريبــۍ پــه وجــه
کــه غــر دې هــم دَ مــچ وزريــې ګڼــې

❄❄❄❄❄❄❄❄❄❄❄❄❄❄❄

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تړمې اوښکې

پــه نــوي کال کښــې دَ حــالاتو بهــترۍ دَ پــاره
دَ دې ملــت دَ خپلــواکۍ او خوشــحالۍ دَ پــاره
دَ خــوار غریــب دَ ژنــدګۍ او ســوکالۍ دَ پــاره
دَ پیغلــې شــال او دَ دې خپلــې شــملاګۍ دَ پــاره

اول دَ ځــان او بیــا دَ بــل محاســبه پکــار ده
پــه نــوي کال کښــې یــوه نــوې تجربــه پکــار ده
چرتــه چــې نــهٔ وي شــوې دغســې قیصــه پکــار ده
نــوې داســتان او یــوه نــوې افســانه پکــار ده
دَ عقــل فهــم سره وینــه هــم تــوده پکــار ده
زړونــه چــې ولــړزوي دغســې جذبــه پکــار ده

داسـې جذبـه نـوې قیصـه زړهٔ کښـې لـرو او کـه نـه؟
دِ خپــل بابــا او دَ نیــکهٔ پــه پــل بــه ځــو او کــه نــه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا تـــوره شـــپه بـــه پـــه رڼـــا کښـــې بـــدلو او کـــه نـــه؟
دا بـــد امـــني او دا نېســـتي بـــه ختمـــوو او کـــه نـــه؟
دِ خپـــل بابـــا دَ شـــملاګۍ پـــت بـــه ســـاتو او کـــه نـــه؟
دې نـــوي نســـل له بـــه امـــن ورکـــوو او کـــه نـــه؟
نـــاوې دَ ژونـــد لـــره بـــه سر ځنـــه کـــوو او کـــه نـــه؟
پـــه تـــور اوربـــل کښـــې بـــه ګلونـــه ورله ږدو او کـــه نـــه؟

کـــه نـــه بـــس تـــش مـــو پـــه کلبونـــو کښـــې ډانســـونه وکـــړل
دَ خېـــر دَ پـــاره نـــهٔ دعا نـــهٔ مـــو نفلونـــه وکـــړل
نـــهٔ خـــدائے تـــه وژړېـــدو نـــهٔ مـــو تـــرې ســـوالونه وکـــړل
چاشـــوګېره وکـــړه او چـــا پټکښـــې خوبونـــه وکـــړل
څـــوک نهـــر پـــاتې شـــول او چـــا ښـــهٔ خوراکونـــه اوکـــړل
چـــا مـــوم بتـــۍ بلـــې کـــړې چـــا پټکښـــې ډزونـــه وکـــړل
چـــا پـــه يوبـــل بانـــدې تکونـــه اعتراضـــونه وکـــړل
خـــدائے مـــو خفـــه کـــهٔ تـــول مـــو داســـې عملونـــه وکـــړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کــه خپـــل عمـــل دَ لارې مـــل دے راتـــه دا اوایـــۍ
زمــــــا دوســــــتانو ادیبــــــانو خامخــــــا اوایــــــۍ
اَبــراش ختټــک وایــم چــې نــن صــفا صــفا اوایــۍ
اخـتر بـه راشي پـه دې حـال کښـې پـه رښـتیا اوایـۍ

کــه دا مــو حــال وي تمنــا دَ اخترونــو مــۀ کــړۍ
تــل بــه خــزان وي تــذکره دَ بهــارونو مــۀ کــړۍ
ګــورۍ دَ چــا سره وعــده دَ سرو ګلونــو مــۀ کــړۍ

دَ سرو ګلونــو بــاغ بــه بیــا دلتــه سمســور نــۀ شي
ودان بــه بیــا زمــونږه دا وران شــوې کــور نــۀ شي
حــق بــه رانــۀ شي دَ باطــل بــه خــتم زور نــۀ شي
زمــونږ پــه غوښــو بــه مــارۀ دا آدم خــور نــۀ شي
عـزت محفـوظ بـه تـرې زمـونږ دَ مـور او خـور نـۀ شي
پــه ګودرونــو بــه جــوړ بیــا دَ پېغلــو شــور نــۀ شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـهٔ مـو جومـات نـهٔ مـو حجـره نـهٔ مـو مـلا پـاتې ده
دلتـــه کښـــې پـــاتې ده دَ غـــم تـــوره بـــلا پـــاتې ده
نـــهٔ خوشـــحالي شـــته نـــهٔ خنـــدا یـــوه ژړا پـــاتې ده
دغـــه ژړا فقـــط پـــه خلـــهٔ زمـــا او ســـتا پـــاتې ده

زمـــونږ دا ترمـــې ترمـــې اوښـــکې لیـــدران نـــهٔ ویـــني
پـه سرو لمبـو کښـې سـوے لـوے زمـونږ ځـان نـهٔ ویـني
زمـــونږ تـــورسرې او ګلونـــه ماشـــومان نـــهٔ ویـــني
ټول په خپل سـود پسـې لګیـا دي زمـونږ زیـان نـهٔ ویـني

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قلم او خنجر

دَ بابـــا پـــه شـــان قلـــم او خنجـــر غـــواړم
زۀ پـــه خپـــل سـيرت کښــې هســې اثــر غـــواړم

امتيــاز چـــې پـــه امــیر غریــب کښــې نــۀ کا
دا نظــــر له خدايـــه داســـې نظـــر غـــواړم

سرنګـــون چـــې دَ امـــير پـــه درشـــل نـــۀوي
دَ ازل کاتـــــب نـــــه دغســــــې سر غــــواړم

رهنمـــا او فـــيض رســـا چـــې دَ هـــر چـــا وي
الٰـــــهي زۀ درنـــــه هغـــــه هــــنر غــــواړم

دربــــدر دَچـــادَ لاســــه چـــې افغـــان دے
هغــــه خلـــک له خپـــل دره بـــدر غـــواړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې رهــبر یــې خوشــحال خــان یــا باچــا خــان وي
دِ پښـــتون دَ پـــاره داســـې لښـــکر غـــواړم

چې بــه لوبــې رنــګ پــه رنــګ پکښــې کېــدلې
هغـــه ښـــکلې او رنګـــین مـــازدیګر غـــواړم

چـــې دَ امـــن ښـــادر خـــور پـــه پښـــتونخوا شـــو
دَ قاصـــد پـــه خلـــۀ نـــن دغـــه خـــبر غـــواړم

هـــر خـــبر پـــه غـــم لـــړلې دَ پښـــتون دے
زۀ اَبـــراش ورله خـــبر دَ اخـــتر غـــواړم

❖ ❖ ❖ ❖ ❖ ❖ ❖ ❖ ❖ ❖ ❖ ❖ ❖ ❖ ❖ ❖

(c) ketabton.com: The Digital Library



# همراز

آتش زن یې هر انداز دے خود به سوزم
دَ اغیارو چې په راز دے خود به سوزم

ښنانه یې خاص دَ زړهٔ دَ پاسه لګي
داسې ښکلے تیرانداز دے خود به سوزم

هر یو راز مې خپرژوي په بام دَ بره
داسې کس زما همراز دے خود به سوزم

زۀ ابراش ختټک ساده باده سړے یم
ښکلے یار مې دهوکه باز دے خود به سوزم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فولاد

لیـدلے زۀ پـه غـم کښـې چـا پـه آه و پـه فریـاد یـم
دَ چـا درتـه ویلـــي دي غاصـبه چـې ناښـاد یـم

پیکـر دَ غـټ همـت یـم حوصـله مـې پښـتنه ده
زمـا مخـې تـه مـۀ راځـه زۀ مـوم نـۀ یـم فـولاد یـم

دعـویٰ کـه دَ دروغـو تـۀ زمـا دَ بربـادۍ کـړې
ښکاره یم پـه میـدان کښـې یـم له هغسـې اباد یـم

ممکنـه نـۀ ده دا چـې سـتا قـدغن تـه غاړه کیـږدم
زنځـیر دَ قـدغنونو مـې شـلولے دے ازاد یـم

صیاد به تـا ګڼـي سـتا چپلوسـیان خـو دا مـې واوره
چې ښکار کړي دَ صیاد اَبراش ختک هغه صـیاد یـم

❀❀❀❀❀❀❀❀

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بڅرے

دَ اغیارو دَ محفل نه رسوا راغله
چې خندل به یې همېش په ژړا راغله

ما وې نه ژاړې به نه له زهٔ ژوندې یم
تهٔ چې راغلې په بدن کښې مې ساه راغله

یم بڅرے په ایرو کښې له مړ نهٔ یم
سره لمبه به شم که کله هوا راغله

ځه طبیبه ستا دارو مې پکار نهٔ دي
نن زما دَ خوږ زړګي مسیحا راغله

(c) ketabton.com: The Digital Library



هــر یــو زخــم بــه دَ زړهٔ زمــا اودهٔ شي
اوس پــه لاس کښــې دَ زخمونــو دوا راغلــه

دا چې ډک محفل کښې ما ته په خندا شــوه
لکـــه اوس دَ رقیبـــانو قضـــا راغلـــه

زهٔ ابراش به اوس دَ بـل چـا څـهٔ پـروا کـړم
دا چــې راغلــه لکــه ټــوله دنیــا راغلــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مېګونې شونډې

مــدحوان چــې ســتا دَ حســـن او شــباب یــم
ځکـــه زهٔ دَ ادب خـــان یمـــه نـــواب یـــم

راتـــه هـــیڅ دي دَ بـــل چـــا مېګـــونې شـــونډې
هســې مســت دَ ســتا دې شـونډو پـه شراب یـم

مـا پـه خپلـو زانـو کېـږده بنـهٔ مـې سـاز کـه
اے نمرمخیـــه تـــه مُطـــرب یـــې زهٔ ربـــاب یـــم

ځـــار قربـــان دې دَ ګـــلاب ګـــلاب ځـــوانی ِشـــم
نـــن یـــې یـــو نظـــر لیـــدلو تـــه بیتـــاب یـــم

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــــه مـــا ګرانـــه زمـــا ځانـــه بــــې لتانـــه
کــه ژونــدے یــم خــو دَ مــړو پــه حســاب یــم

لټــوه مـــې اوس پــه تــورو تــورو شـــپو کښـــې
چــې تعبــیر یــې مونــدے نــهٔ شي هغــه خــواب یــم

زهٔ ابــراش پــه خپلــه مینــه کښـــې صــادق یــم
خــدایے کــه تــوره زمــا ژبــه کــه کــذاب یــم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دروغجن

زورور یم خو دَ پاره دَ کمزور یم
خوارې غاړې کښې کومه تېره لور یم

دَ شباب په نشه مست یمه زۀ هسې
غمزاده په غم دَ کور او نۀ دَ ګور یم

مذبذب یمه نۀ اَلې یم نۀ دورې
دَ مذهب په نام تور تکے یمه تور یم

دروغجن یم تش په خلۀ مې دهوکه نۀ شې
که په تن مې سپین لباس دے په زړۀ تور یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغـــه خلـــۀ مـــې کــــه ســــحر الله الله کـــه
ماښـــام ډوبـــه پـــه کاســـه وي شراب خـــوريـــم

ماتومـــــــه تـــــنکي زړونـــــــه دا مـــــــې کار دې
پـــه زړۀ کلــک لکــه دَ کاڼــي پــه خلــۀ ســپوريــم

پـــه ظـــاهر دې مـــا ابـــراش چـــې خطـــا نـــۀ شـــې
زۀ ســـړے پـــه ســـپين لبـــاس کښـــې ســـړي خـــوريـــم

❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖
❖❖❖❖❖❖❖❖❖
❖❖❖❖❖
❖❖❖
❖

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پښتنه مینه

مینـــې پـــه درســـت جهـــان عيـــان کړمـــه زۀ
هېـــر بـــه يـــې خنګـــه دا احســـان کړمـــه زۀ

دَ لــــــواغر پـــــه خټکزينــــــه خــــــاوره
بيـــا راژونـــدے بـــه خوشـــحال خـــان کړمـــه زۀ

دا مـــې پـــه زړۀ کښـــې پښـــتنه مينـــه ده
چـــې دَ پښـــتون يـــې قـــدردان کړمـــه زۀ

دا مـــې پـــه زړۀ کښـــې دَبابـــا مينـــه ده
ذکـــر چـــې هـــر وخـــت دَ افغـــان کړمـــه زۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ لـــــواغر دَ کاروان ســـــتورے یمـــــه
خیـــبره تـــا بـــه هـــم روښـــان کړمـــه زۀ

دَ پښــــتونخوا وران ویجـــــاړ ګلشـــــنه
پـــه خپـــل همـــت بـــه دې ودان کړمـــه زۀ

چــې دَ پښــتو پــه معــنیٰ پــوي شــوم ابــراش
قســـم چـــې اوس یـــې مســـلمان کړمـــه زۀ

❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖
❖❖❖❖❖❖❖
❖❖❖❖❖
❖❖❖
❖

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پښتون

په ټکنه غرمه کښې په سرۀ نمر وګرځېده
حجرې ته پسې لاړه هم بهر وګرځېده

عجبه ده قیصه پښتون اکثر ترینه پټېږي
پښتو دَ نن پښتون پسې اکثر وګرځېده

ګرځېږي سپورې څنې شونډې وچې ښپې برېنډې
پښتون یې پیدا نۀ کۀ لراو بر وګرځېده

له هغسې پراته ده دَ وحشت په توره شپه کښې
هر څو که په لټون دَ رڼ سحر وګرځېده

په شته پښتون کښې نشته ده پښتون چې وۀ یې وینې
پښتو خواره فقیره در په در وګرځېده

ګویا شوه ما ابراش ته ویل یې دغه مې منزل دے
پښتو چې په شین غر دَ لواغر وګرځېده

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ستړګې کـه دي سـتړګې خـوبس دا سـتړګې
ډېـــرې جانانـــه او دلربـــا ســـتړګې

غـــلا وکـــړي زمـــا نـــه دَ زړهٔ غـــلا وکـــړي
کلـــه غـــړوې چـــې تـــهٔ پـــه غـــلا ســـتړګې

ګرانـــه کـــه هـــر څـــوده شـــاعري اشـــنا
مـــا تـــه یـــې آســـانه کـــړي دَ ســـتا ســـتړګې

ژونـــد زمـــا او ســـتا چـــې پـــه نظـــر نـــهٔ شي
خـــدای دې راپســـې نـــهٔ کـــړي دَ چـــا ســـتړګې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورک مې کـړه پـه ځـان کښـې پـه کاتـۀ کاتـۀ
ولـــې اړوې رانـــه بیـــا بیـــا ســـترګې

ځـیر ځـیر راتـه ګـوره چـې مـاړې شي نـن
ډېـــرې ورږې تـــرږې دي زمـــا ســـترګې

مـــا اَبـــراش پـــه دې جهـــان ونـــۀ لیـــدې
دغســـې حســـینې او زیبـــا ســـترګې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فن

بخت مې ښـهٔ وهٔ چې مـې داسـې سر پیدا کـهٔ
چې پـه شـعر کښـې یـې زمـا اثـر پیـدا کـهٔ

پـه رګ رګ کښـې دَ دې فـن شـوم وردننـه
ځکـه مـا دَشـاعرۍ ګـوهر پیـدا کـهٔ

ځوک عمرونـه پسـې تېـر کـړي نـهٔ یـې مـومي
حـیراني ده چـې مـا داسـې زرپیـدا کـهٔ

چـې مونـدهٔ شي هغـه در پـه ډېـره ګرانـه
مـا پـه څـهٔ آسـانه هغـه در پیـدا کـهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغــه زر چــې یــې حصــول پــه بوډاتــوب شي
مــا پــه ځــوانۍ ځــوانی هغــه زر پیــدا کــۀ

کــه حــالات پــه بــره ځــي لکــه کــونتره
ورتــه مــا هــم عقــابي نظــر پیــدا کــۀ

کــه حــالات کــړي دَ پلکونــو ګزارونــه
خــو مــاهم ورتــه ســندان ځیګــر پیــدا کــۀ

اوس مــې خــوف نــۀ دَ بــاران شــته نــۀ دَ اَبــر
مــا اَبــراش دَ تــورې شــپې ســحرپیدا کــۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# افغان

کلــه خوشــحال بابــا او کلــه اجمــل خــان یمــه
پــه تخیــل کښــي چــې بــوډا وي هغــه ځــوان یمــه

نــهٔ څــوک غــلام ګــڼم او نــهٔ دَ چــا خــاني منمــه
دَ خپلــې خــونې هــم غــلام یمــه هــم خــان یمــه

زهٔ رهنمــا دَ یـــوې ضـــلعې او صـــوبې نـــهٔ یــم
رهنمایـــــی تـــــه زهٔ پیـــــدا دَ کل جهـــــان یمـــه

ماتـــه پیغـــور دَ یوســـفزي او مهمنـــد مـــهٔ راکـــوه
خټک ضرور یــم خــو پــه اصــل کښــې افغــان یمــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



که یوسفزي دي که مهمند کـه بنـوخي او مـروت
دَ تولــو ځــار شــمه دَ تولــو نــه قربــان یمــه

کــه لـواغر سـتایم خیــبر هــم هیــرولے نــهٔ شــم
ځکــه چــې زهٔ دَ خپــل نیکــهٔ پــه پــل روان یمــه

په هر یو بیـت کښـې بـه افغـان فخـر افغـان یـادوم
ځکه چې زهٔ اَبـراش نمسـے دَ خوشـحال خـان یمـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ځان

وران به نهٔ شم هېڅکله که وران یې کړم
هر څو که آسان یمه خو ګران یې کړم

نهٔ دي دا زما دا دي دَ غېرو رنګ
دا چې په کوم رنګ باندې عیان یې کړم

ښـپه بـه دَ باطـل پـه زمکـه نـهٔ لګـي
وړم بـه یـې دَ ځـان سره طوفـان یـې کـړم

دي بـه هـم سـپرلے پـه برغـو نـهٔ ویـني
زهٔ کـه یـې تـالا کړمـه خـزان یـې کـړم

کـړم بـه یـې رسـوا پـه جهـان دغسـې
څهٔ رنګ چې رسوا په درست جهان یې کړم

ځـان دي مـا اَبـراش تـه چـا ځـان نـهٔ ویـل
دا دي دَ پښـتو کمـال چـې ځـان یـې کـړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کفن

دا یینـــا ســـترګې ړنـــدولے نـــۀ شـــم
دغســـې نـــور ژونـــد تېـــرولے نـــۀ شـــم

پـــه دې سرکـــشي سر مـــې خـــۀ وکړمـــه
وایـــي کـــټ بـــۀ یـــم ټيټېـــدلے نـــۀ شـــم

پـــه سر کشـــۍ کښـــې یـــې پښـــتو پوشـــیده
ځکـــه خـــۀ بنـــد ورتـــه تـــړلے نـــۀ شـــم

هغـــه چـــې هـــر پـــل زمـــا سر مـــاتوي
زۀ یـــې هـــم ګل پـــه سر ټـــومبلے نـــۀ شـــم

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس بـــهٔ کفـــن پـــه سر تـــړم ملګـــرو
بـس دې نـــور اوښــکې څڅــولے نــهٔ شــم

زړهٔ مــې پښـــتون پــه ډېــرو نــهٔ پــوهېږي
چــل ول دَ غېــر غونــدې کــولے نــهٔ شــم

اَبــراش پــه ښــهٔ او پــه بــد نــهٔ پــوهېږم
امــین پــه پټــو ســترګو ویلــے نــهٔ شــم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فکرو خیال

کــــه مــــې اخلـــې امتحـــان
نـــــو دا ګـــــز دے دا میـــــدان

یـــــا ســـــپوږمۍ دَ خوارلســـــم
یـــــا یـــــم ســـــتورے دَ آســـــمان

هـــــریـــــو شـــــعر مــــې ننګیـــالے
دَ بابـــــا پـــــه پـــــل روان

عجیبـــــه زمـــــا غـــــزل
هـــــم رقیـــــب دې هـــــم جانـــــان

فکـــــرو خیـــــال مـــــې دَ یـــــو پـــــیر
تـــــن او مـــــن مـــــې دَ یـــــو ځـــــوان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# چې پښتون یم

مسلمان یم ښـهٔ سـړے یم چې پښـتون یـم
کلـه ګل کلـه ازغــے یــم چــې پښــتون یــم

که بې ننګـه دے مغـل دے یـا فرنـګ دے
ننګیــالے او توریــالےیم چــې پښــتون یــم

زیست روزګار کـه دَ دنیـا مـې پـه پښـتو شي
په عقـبئ کښـې بریـالے یـم چې پښـتون یـم

درد و غـم بـه مـې پـه هیڅـا پیـرزو نـهٔ شي
دَ دردمند دَ زړګي سوے یم چـې پښـتون یـم

(c) ketabton.com: The Digital Library



کــــه قیصـــه دَ محبـــت او ســـرېتوب وي
بیـا لــوګېږم ســپېلنے یــم چــې پښــتون یــم

کـــه دَ پــــت او دَ عــــزت خــــبره راشي
سره لمبــه یــم او لــوګے یــم چــې پښــتون یــم

لېونتــوب بــه دې خپــل هېــر شي لېونیـــه
اَبــراش هســې لېــونے یــم چــې پښــتون یــم

❖ ❖ ❖ ❖ ❖ ❖ ❖ ❖ ❖ ❖ ❖
❖ ❖ ❖ ❖ ❖ ❖ ❖ ❖
❖ ❖ ❖ ❖ ❖
❖ ❖ ❖
❖

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رموز

څـــهٔ یـــې حســـن څـــهٔ شـــباب
لاجـــــــواب دے لا جـــــــواب

هـــــم ټپـــــه ده هـــــم غـــــزل
هـــــم مطـــرب دے هـــــم ربـــاب

پـــه یـــو ځـــاے پکښـــې موجـــود
هـــــم ســــکون هـــــم اضـــــطراب

پکښـــــې ډیـــــر بـــــه شي لاهـــــو
ســــــمندر دے یـــــا دریـــــاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ هـــــر تـــــن دَ مـــــن ســــوال
دَ هـــــر كـــس دَ ســــوال جـــواب

عجيبـــــــه يـــــې دي رمــــــوز
هـــم غـــلام دے هـــم نـــواب

انقـــــــــلاب دے انقـــــــــلاب
دَ اَبـــــراش ختہـــــک کتـــــاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملت

پـت زمـا عـزت زمـا الفـت زمـا
ګـران پـه مـا دَ ځانـه خـوږ ملـت زمـا

وران شـه ودان مـۀ شـه دَ هغـو جنـت
څـوک چـې ورانـوي دغـه جنـت زمـا

لرې کړه دَ روڼ مخ نـۀ یـې شـپه دَ غـم
یـه ربـه پـوره کـړه دا حسـرت زمـا

یـو ځـل مـې دَ زړۀ پـه سـترګو وګـوره
تـا تـه بـه ښـکاره شي صـداقت زمـا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې کېږي قیصې دَ مایوسۍ راته
تا لیدلې نۀ دي جوړ همت زما

کړم چې ایاري دَ ګل دَ زړۀ په خون
دغه ده جذبه دَ حریت زما

بې له دۀ یم زۀ اَبراش یو خوار فقیر
دغه دے جاګیر او ملکیت زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سمندر

زړۀ یمـــه ځیګـــر یمـــه دَ فکـــروفن
زۀ یـــو ســـمندر یمـــه دَ فکـــروفن

تـــل ویـــنم دَ شـــعر و غـــزل تـــل ویـــنم
داســـې یـــو نظـــر یمـــه دَ فکـــروفن

تـا تـه کـه دَ مـچ وزر یـا خـس ښـکارم
زۀ یـــو درون شـــجر یمـــه دَ فکـــروفن

تنـــده بـــه دَ فـــن دَ تـــږې ماتـــه کـــړم
زۀ حـــوض کـــوثر یمـــه دَ فکـــروفن

پـټ شي دَ فلـک سـتوري چـې مـا ویـني
نمـــر یـــم هســـې نمـــر یمـــه دَ فکـــروفن

(c) ketabton.com: The Digital Library



تــا تــه بــه ګیلــې او یــا بــه ســپین ښــکارم
زر یمـــــه سرۀ زر یمـــــه دَ فکـــــروفن

خـداے دې تـا یینـا کـه چـې مـې ووینـې
زۀ یـــو روڼ ســـحر یمـــه دَ فکـــروفن

زۀ دې کـه تـر غـوږ شـومه اوتـر بـه شـې
زۀ هغـــه خـــبر یمـــه دَ فکـــروفن

سر کـه خـوري خـو سر وي پـه مـنزل پسـې
زۀ یـــو داســـې سر یمـــه دَ فکـــروفن

ستا په سـپک نظـر کنبـې بـه زۀ سـپک یمـه
زۀ اَبـــراش شـــین غـــر یمـــه دَ فکـــروفن

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

تــا کـــه دَ بڼــو څــوکې تېـــرې کړلـــې
مــا هــم ورتــه ځــوانې حوصــلې کړلــې

تـــا کـــه ارادې دَ مينـــې ختمـــې کـــړې
مـــا ورتـــه محکمـــې ارادې کړلـــې

دا بــه شي سرخـــي دَ ســتا دَ سرو شــونډو
تـا کـه مـې پـه خـون منګلـې سرې کړلـې

بـې مقصـده نـهٔ شي کېـدے دا سـترګې
يـا دې چـې زمـا پـه لـور کـږې کړلـې

هســـې دې خطـــا پـــه لوســـو پوســـو شـــوم
هســـې دَ دروغـــو دې وعـــدې کړلـــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــاتې دې نــهٔ یــا او نــهٔ صــبا یېګــا
ختمــې دې بــس تــولې بهــانې کړلــې

زهٔ دَ روڼ ســــحر پـــه طمـــع پایمـــه
تاکـه مـې پـه ژونـد تیـارې خـوارې کړلـې

نــن دې چــې لونــدو زلفــو له ښنـه ورکـهٔ
یـا مـې دې پـه زړهٔ کښـې زلزلـې کړلـې

یـا دې چـې رانېـغ کــړل پښــتانهٔ بانـهٔ
ختمــې مـــې دې تــولې وسوســې کړلــې

زهٔ اَبــــراش ډاډه وم پــــه راتلـــو دَ ســـتا
ځکــه درتــه مـــا نـــن اشـــارې کړلـــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دَسروولی

دَ غیـــر پـــه خـــاوره ابـــادی جـــوړوې
پـــه خپلـــه خـــاوره بربـــادی جـــوړوې

هـــره قیصـــه دې دَ مســـتۍ نخښـــه ده
څـــۀ له بهـــانې دَ بـــې وســـۍ جـــوړوې

خپلـــه پښـــتو دې ســـپورې څڼـــې ژاړي
تـــۀ نـــورو ژبـــو له کمځـــۍ جـــوړوې

ویـــل دَ پښـــتو نـــاوې نـــن مـــا اَبـــراش تـــه
مـــا له بـــه تـــه دَ سرو ولـــۍ جـــوړوې

❀❀❀❀❀❀❀❀

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خوشحال خان

فرنګ کونتره دَ هوا وګڼه
تهٔ عقابي ورته نظر جوړ که

بیا چې په زړهٔ شي خوشحال خان دَ مغل
له ځانه داسې بهادر جوړ که

چې دَ خوشحال شمله پرې فخر وکړي
پښتو نه سر دې داسې سر جوړ که

چې دَ فرنګ دَ ظلم شپې ختمې شي
توري له شرنګ ورکه سحر جوړ که

دواړه دې ستا دَ محبت په طمع
قلم جانان خنجر دلبر جوړ که

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

دا چــې ســـتادَ زنـــې پـــه سر زخـــه ده
خوښـــه مــې ده بــې حــده مــې خوښــه ده

ښخ لکه چې خس شي دَ چا سترګو کښــې
دغســـې زمـــا پـــه زړهٔ کښـــې ښـــخه ده

ســـتا دَ فـــراق اور کـــړم زهٔ لمبـــه لمبـــه
ځکـــه خـــو ســـینه دَ رقیـــب یخـــه ده

ستا نـه مـې خفګـان نشـته خفـه مـهٔ شي
خـــــواره دَ ازل نـــــه زمـــــا برخـــــه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا دَ ژوند کتاب کښې زما نوم چې ؤ
تا ترینه اوښکلې هغه پخه ده

زړۀ دې فولاد نۀ دې آخر مات به شي
وشولې مودې چې ستا په نخښه ده

ما ابراش خټک ته آفت نۀ ښکاري
هر هغه آفت چې ستا له مخه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نظم لیونـــي زلمــي

تــهٔ مـــې يـــې هـــر څـــهٔ وطنـــه يـــم پـــه تـــا قربـــان
دغـــــــه ده دعا زمـــــــا اوســـــــې تـــــــل ودان

عهد چې يـو ځـل وکـړي پـه شـا يـا کلـه ځـي پښـتون
ستا په ننګ ناموس بانـدې بـه خپـل سر ورکـوي پښـتون
مخکښـې يـې ګټلـې يـې هـم يـا بـه دې ګټـي پښـتون
کـــړي بـــه ســـتا دښـــمن پـــه وينـــو ســـور دَ کل جهـــان
دغـــــــه ده دعا زمـــــــا اوســـــــې تـــــــل ودان

مـــونږ يـــو لېـــوني زلمـــي مـــونږ يـــو توريالـــي زلمـــي
هـــم يـــو ګلالـــي زلمـــي هـــم ازغـــي ازغـــي زلمـــي
هـــم دَ شرافـــت قايـــل هـــم يـــو لېونـــي زلمـــي
مـــونږ يـــو ننګيـــالي زلمـــي پـــه شـــان دَ خوشـــحال خـــان
دغـــــــه ده دعا زمـــــــا اوســـــــې تـــــــل ودان

(c) ketabton.com: The Digital Library



اے دَ وطــن خــاورې ســتا دښــمن دې هــم دښــمن زمــا
تــا بانــدې قربــان، قربــان کــړم تــن او مــن زمــا
هــر مــدام تيــار يمــه پــه سر اېښــې کفــن زمــا
زۀ دَ خپــل بابــا پــه شــان ولاړ يــم پــه ميــدان
دغــــه ده دعا زمــــا اوســــې تــــل ودان

ســترګې عقابــې لــرو، زړونــه دَ زمــري لــرو
عقــل دَ بابــا پــه شــا ن تــوره ابــدالي لــرو
بــل دَ تــاريخ پــاڼې هــم مــونږه زرزاري لــرو
تــا بــه جــوړۀ وطنــه مــونږ جنــت نشــان
دغــــه ده دعا زمــــا اوســــې تــــل ودان

تــۀ دَ خوشــحال خــان وطــن هــم دَ باچــا خــان وطــن
تــۀ دَ ابــدالي وطــن هــم دَ ايمــل خــان وطــن
تــۀ جانــان جانــان وطــن تــۀ يــې زمــا ځــان وطــن
تــۀ دې مــا اَبــراش ختہــک مــذهب او تــۀ ايمــان
دغــــه ده دعا زمــــا اوســــې تــــل ودان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پښتونخوا

لاســـونه پورتـــه کـــړئ دَ پـــاره دَ دعا ملګـــرو
خدای مـو دې تـل ساتـــي ابـاده پښـتونخوا ملګـرو

خدای دې دې سیمې ته یو داسې لوی مقام ورکړي
داسـې چـې نـۀ وي بلـه سـیمه پـه دنیـا ملګـرو

پـه دغـه سـیمه کښـې اوسـیږي ننګیـالي پښـتانۀ
چې دَ هر چا پـه خلـۀ وي بـس دغـه وینـا ملګـرو

په پښتونخوا که خـدای راخـور کړلـو دَ امـن څـادر
ورانـــه دنیـــا بـــه بیـــا ودانـــه شي زمـــا ملګـــرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ زوروړو زور دې کـــم شي دَ جـــابرو جـــبر
ظلـم زيـاتے چـې پـه نـادار وۀ نـۀ شي بيـا ملګـرو

راځـئ پـه جمـع چـې نـن دغســې دعا وغــواړو
دَبـــد نظـــرو مـــو دې اوســاتي مـــولیٰ ملګـــرو

دَ پښـتونخوا سـيمه دې وخانـدي خوشـحاله دې شي
دې مـــا اَبـــراش پـــه زړۀ ده دغـــه تمنـــا ملګـــرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

چې په تپه مې یکه زار نهٔ کوي
خواص خمسه به یې کار نهٔ کوي

په خلهٔ یې ګفت لکه ګونګے اونهٔ کهٔ
اوتراوتر ګوري ګفتار نهٔ کوي

خلهٔ دَ مالدار ده چې درانهٔ ویل کا
درانهٔ ویل خلهٔ دَ نادار نهٔ کوي

دَ چا چې کار وي هم هغه له ښایي
ځوک دې غرض دَ بل په کار نهٔ کوي

هر هغه کس چې دَ خواص خاوند وي
زما دَ فن نه به انکار نهٔ کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سیــل

(په خصوصي فرمایش دَ نورالحسن)

ځــو بــه پــه لــوري دَ خیــبر جانانــه زمــا
وایــو بــه ښــهٔ پکښــې چکــر جانانــه زمــا

دَ ادیبــانو ښــکلے ښــار نوښــار تــه بــه ځــو
دَ خوشحال خان بابا مــزار، مــزار تــه بــه ځــو

بیــا بــه راځــو پــه پیښــور جانانــه زمــا
وایــو بــه ښــهٔ پکښــې چکــر جانانــه زمــا

دَ خړ خیبر هغه دنــګ غرونــه ګــورو بــه یــې
دَ ننګیــالو دَ خــون رنګونــه ګــورو بــه یــې

ښــهٔ پــه ډک زړهٔ پــه ډک نظــر جانانــه زمــا
وایــو بــه ښــهٔ پکښــې چکــر جانانــه زمــا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوهاټ به ګورو هم حسینې جتې تـه بـه ځـو
دَ ډانډ فقیر غمګـین بابـا روضـې تـه بـه ځـو

ګـورو بـه هـم دَ سـویري غـر جانانـه زمـا
وایـو بـه ښـهٔ پکښـې چکـر جانانـه زمـا

دَ څـوترې بــه خامخـا کــوو ســېلونه
هلتـه هـم ډېـر دي دَ لیـدو ښایسـته ځایونـه

خـاص کـر شـین غـر دَ لـواغر جانانـه زمـا
وایـو بـه ښـهٔ پکښـې چکـر جانانـه زمـا

دَ ښایسـته کـرک نـه پـس دَ بنـو ښـار دے
دَ غازي سیال صاحب دا ښار څهٔ مزیـدار دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخـــتر یـــې هریـــو مزدیګـــر جانانـــه زمـــا
وایـــو بـــه ښـــۀ پـکـښـــې چـکـــر جانانـــه زمـــا

واپس به بیا راشـو کـرک تـه دمـه بـه وکـړې
دې ما ابراش خټک په کلې کښې شپه به وکړې

کـور تـه بـه لاړ شـې بیـا سـحر جانانـه زمـا
وایـــو بـــه ښـــۀ پـکـښـــې چـکـــر جانانـــه زمـــا

(ډانډ فقیر او غمګین بابا دَ دؤو بزرګانو نومونه دي چې
په جته اسماعیل خیل کښې دي او دَ سویري غر دَ جته
اسماعیل خیلو دَ یو غر نوم دے)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کافر

کــه دانــا یــې هــر دم فکــر دَ عقبــا کــه
ادنٰی څــــۀ له دلتــــه پـــایې ځـــان اعلٰی کــــه

جــوړ کافــر شــه ادم زاد چــې رســوا نــۀ کــړې
خدائے هغه کاندي رســوا چــې بـل رسـوا کـه

هر یو کـس بـه روڼ سـحر درتـه ښـکاره شي
تــــۀ خچنـــــه آئینـــــه دَ زړۀ صــــفا کـــــه

اول تـــول وکـــه دَ ځـــان پـــه خپلـــه تلـــه
تـــول دَ بـــل پـــه خپلـــه تلـــه بانـــدې بیـــا کـــه

خدائے دې نۀ که چې بیرون مـې شي له فکـر
هغـه څـوک چـې هـر مـدام فکـر زمـا کـه

❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (دَنور محمد ملنګ دَشعري مسودې دَ ورکېدو په حقله یو څو شعرونه)

ځوانه جذبه غټه حوصله وه پـه ساعت کنبـې لاړه
ستا دَ ټول عمـر سرمایـه وه پـه ساعت کنبـې لاړه

پکنبـې سُرونـه هـم آهونـه اباسـین فکرونـه
دَښـو لفظونـو خزانـه وه پـه ساعت کنبـې لاړه

سـتا شخصـیت او لوړقامـت یـې عـکاسي کـوله
لکه شین غر هسې درانه وه پـه ساعت کنبـې لاړه

دَ نزاکـت او دَ جـدت نـوي رنګونـه پکنبـې
دَ ښایسـتونو مجموعـه وه پـه ساعت کنبـې لاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ســـتا دَ شـــعري مســـودې دَ ورکېـــدلو قيصـــه
لکه بـيخي چـې افسـانه وه پـه سـاعت کنبـې لاړه

ستا شاعري په دې بـې کېفه بې سروره ژوند کنبـې
دَ کېف نـه ډکـه پيمانـه وه پـه سـاعت کنبـې لاړه

ملنګــه بــې شــکه دَ ســتا وه مګــر ســتا شــاعري
دَ هر پښتون دَ سر شـمله وه پـه سـاعت کنبـې لاړه

دې ما اَبراش ختک دَ ژوند په تکه توره شپه کنبـې
دا دَ اميــد بلــه ډېــوه وه پــه ســاعت کنبــې لاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شړ په شړوپ

دَ بــــې عقلـــه عقـــل منـــد توبـــه توبـــه
نصـــیحت اوري نـــهٔ پنـــد توبـــه توبـــه

دَ قینچـې غونـدې پـه هـر ځـاے کښـې چلیـږي
خُلـــهٔ بـــه نـــهٔ کـــړي دَ دهٔ بنـــد توبـــه توبـــه

کړپـه کـړوپ پـه شـړپه شـړوپ بـه دې پـاګل کـه
چـــې پـــه څـــهٔ هـــم وهي شـــوخند توبـــه توبـــه

وازه خلهٔ به وي هـر ځـاے کښـې چـپ بـه نـهٔ شي
کـــه یـــې وټـــوکے هـــر چنـــد توبـــه توبـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



قنـد تـه ګنـد او ګنـد تـه قنـد وایـي بې عقـل
خـوري بـه ګنـد لکـه دَ قنـد توبـه توبـه

یـو چـې وخـوري خاځـا ورپسـې بـل خـوري
پـه خپـل ګنـد پسـې سـو ګند توبـه توبـه

زهٔ ابـراش تـر دې سـپیمو یمـه راغلـې
یـم پـښېن شـوې پـه څـهٔ ګنـد توبـه توبـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نظم مور

شنه لوخړه بیا فضا شوه
شور و غُل شو واویلا شوه

توره شپه توره بلا شوه
اچانک پکښې برېښنا شوه

دا برېښنا وه دَ بمونو
غورځیدل چې دَ جازونو

پورته بیا دَ اور لمبې شوې
دَ اسمان لمنې سرې شوې

سوزېدل خړ خړ کورونه
په هر لور شول فریادونه

ماشومان په سرو لمبو کښې
سرۀ ګلان په سرو لمبو کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یــو ویــل چــې بابــا جانــه
چرتــه لاړې پــه مــا ګرانــه

بــل ویــل چــې خــوږې مــورې
یــه زمــا دَ زړهٔ ټکــورې

دا اورونــه رانــه مــړهٔ کــه
مــا پــه غیــږه کښــې اودهٔ کــه

اســتوګن چــې دَ نــیران دے
دا بچــے دَ یــو افغــان دے

افغــان بیــا هــم پــه ګــډا یــم
خــهٔ بــې غمــه بــې پــروا یــم

چــې دَ هــر چــا دَ خنــدا یــم
دا بچــے دَ پښــتونخوا یــم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژونـد دي مـا اَبـراش سـور اور دے
راتــه کــور لکــه دَ ګــور دے

پـه غوږونـو کښـي مـي شـور دے
دغــه شــور دَ یــوي مــور دے

دغــه مــور دَ یــو افغــان ده
یــک یــوازي پــه میــدان ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پښتون

عجیبــه زمـا فطـرت دے عجیبــه غونـدې پښــتون یــم
دَ پښــتو نـه مـې نفـرت دے عجیبـه غونـدې پښـتون یـم

پـه پښـتو چـې کـړي خـبرې دَ هغـو سره پـه جنـګ یـم
دَ پښــتو رنګــین غــزل دَ اورېــدو سره پــه جنــګ یــم

دروغ نـه دا حقیقـت دے عجیبـه غونـدې پښـتون یـم
دَ پښـتو نـه مـې نفـرت دې عجیبـه غونـدې پښـتون یـم

دَ اغیـارو رنـګ کښـې رنـګ یـم دَ پښـتو نـه نـا خـبره
ډېــره ښــه راپانــدې لګــي دَ انــډیا هــره ســندره

دا مې ننګ دا مې غیرت دے عجیبه غونـدې پښـتون یـم
دَ پښـتو نـه مـې نفـرت دې عجیبـه غونـدې پښـتون یـم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

لکــــه تــــن چــــې بــــې له سره بــــې معنــــې
داســــې زۀ بــــې له دلــــبره بــــې معنــــې

تــــذکره ســــتا دَ جمــــال چــــې پکښــــې نــــۀ وي
هــــم تپــــه او هــــم ســــندره بــــې معنــــې

چــې پــه مــوتي کښــې دَ بــل وي دَ ســتا نــۀ وي
دَ ســــرو زرو ملغلــــره بــــې معنــــې

دَ اخلاص خونــد و خوږلــت چــې پکښــې نــۀ وي
ســتا پــه ستونــي کښــې شــکره بــې معنــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په لاس کښې یې موتې دَ توري نهٔ وي
که اغوستې یې وي زغره بې معنې

چې په زور او زر کښې سم ورسره نهٔ وي
داسې سر سره ډغره بې معنې

نهٔ څوکۍ او نهٔ سرهٔ زر لري دا ځکه
دَ اَبراش هره خبره بې معنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دَبقا ژوند

تــــهٔ دَ ســــوزېدو دَ پـــاره ســــوزه تــــهٔ
زهٔ دَ الوتــــو دَ پـــــاره ســــــوزه تــــــهٔ

تــــهٔ لکــــه دَ بــــت ولاړ ولاړ بـــــه وې
زهٔ پــــه وړانــــدې تلــــو دَ پـــاره ســــوزه تــــهٔ

زهٔ دَ بقـــا ژونـــد دَ ورکېـــدو نـــهٔ یـــم
تــــهٔ دَ ورکېـــدو دَ پـــاره ســــوزه تــــهٔ

اے حاسده دلتـه کښـې هـم هلتـه کښـې
تــــهٔ دَ سرو لمبــــو دَ پـــاره ســــوزه تــــهٔ

زهٔ ابــــراش دَ بــــل پــــه ښــــادۍ ښــــاد یمــــه
تــــهٔ دَ ژړېــــدو دَ پـــاره ســــوزه تــــهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خیر و شر

شر د جهالــت نښــخه شر بــه نــوره نــۀ کــوو
جهــل دَ ظلمــت نښــخه شر بــه نــوره نــۀ کــوو

شر د ســـپېکدلو نـــوم، شر دِ ټيټېـــدلو نـــوم
شر دَ لـــوړو تنـــدو نـــوم، شر دَ کړېـــدلو نـــوم
يـــا دَ ورانېـــدلو نـــوم يـــا دَ ورانولـــو نـــوم
شر دَ ژړېـــدلو نـــوم او شر دَ ورکېـــدلو نـــوم

شر دَ ذلالــت نښــخه شر بــه نــوره نــۀ کــوو
شر دَ جهالــت نښــخه شر بــه نــوره نــۀ کــوو

شر دَ مُــلا جــان تحفــه يــا دَ ګــډ وډ خــان تحفــه
شر مــونږ له راکــړي خــۀ! کونــډې يتيمــان تحفــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یــا دَ ســتا دَ سر تحفــه یــا زمــا دَ ځــان تحفــه
مــرګ له یـــې ورکــړي دي ګل ګل ماشــومان تحفــه

شر دَ هلاکــت نښــخه شر بــه نــوره نــهٔ کـــوو
شر دَ جهالــت نښــخه شر بــه نــوره نــهٔ کـــوو

ننــګ زمــونږ او جنــګ زمــونږ علــم تــه اړتیــا لــري
تــوپ زمــونږ تُفنــګ زمــونږ علــم تــه اړتیــا لــري
دا دَ تــورې شرنــګ زمــونږ علــم تــه اړتیــا لــري
دغــه وطــن رنــګ زمــونږ علــم تــه اړتیــا لــري

علــم دَ حکمــت نښــخه شر بــه نــوره نــهٔ کـــوو
شر دَ جهالــت نښــخه شر بــه نــوره نــهٔ کـــوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا زمــــونږ دَ رب پيغـــام، يـــو قلـــم او يـــو کتـــاب
دا مـــو دَ مـــذهب پيغـــام يـــو قلـــم او يـــو کتـــاب
دا دَ هـــر منصـــب پيغـــام يـــو قلـــم او يـــو کتـــاب
دغـــه دَ مطلـــب پيغـــام يـــو قلـــم او يـــو کتـــاب

دا دَ عمـــارت نښـــخه شر بـــه نـــوره نـــهٔ کـــوو
شر دَ جهالـــت نښـــخه شر بـــه نـــوره نـــهٔ کـــوو

خېـــر کښــې دَ کاګُل ســوري لانــدې يــخ بادونــه دي
خېر کښې دَ بنګړو شرنګـا خېـر کښـې ګودرونـه دي
خېر کښې خوشبويۍ خورې خېر کښې سرهٔ ګلونه دي
خېر کښې دَ جانان تر څنګ رنګ رنـګ محفلونـه دي

خېـــر دَ محبـــت نښـــخه شر بـــه نـــوره نـــهٔ کـــوو
شر دَ جهالـــت نښـــخه شر بـــه نـــوره نـــهٔ کـــوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خېـــر دَ پرمختــګ نامــه ، خېـــر دَ خوشــحالۍ نامــه
خېـــــر دَ اننګـــــو سرخي خېــــر دَ رنګینـــــۍ نامـــــه
یـــــا دَ ښـــــاپیرې نامـــــه یـــــا دَ ښـــــاپیرۍ نامـــــه
وایمـــــه ابـــــراش خټـــــک خېـــــر دَ ودانـــــۍ نامـــــه

خېـــر دے دَ زینـــت نښـــخه شر بـــه نـــوره نـــهٔ کـــوو
شر دَ جهالـــت نښـــخه شر بـــه نـــوره نـــهٔ کـــوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

خپل همت وژاړم که دا ستړي سفر وژاړم
که نه دَ کلي نه ورک شوي خپل دلبر وژاړم

په هره خونه او کوټه او په در اوور وريږي
کومه کوټه او خونه وژاړم، کوم در وژاړم

وزيرستان وانهٔ وژاړم که دا زړهٔ پېښور
لغمان وژاړم که هلمندکه هشنغر وژاړم

تهٔ دَ بارودو ګردو ړوند کړي زهٔ دي هم نهٔ وينم
ستا سترګي وژاړم که دغه خپل نظر وژاړم

جرأت به غواړي تش په دې باندې به کار وهٔ نهٔ شي
په ځاے دَ اوښکو که دَ وينو سمندر وژاړم

ابراش په دوه ځايه مين يم اخر څهٔ وکړمه
هلته کابل او که نه دلته پېښور وژاړم

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**